اَلنَّحْوُ فِى الْكَلَامِ كَالْمِلْحِ فِى الطَّعَامِ

عِلْمُ النَّحْو پښتو

له نويو ګټورو معلوماتو
او وضاحتونو سره

ليکوال
حضرت مولانا مشتاق احمد چرتهاوى رحمه الله

ژباړن
عبدالمتين عاطفي

بسم الله الرحمن الرحیم

پښتو

علم النحو

له نویو ګټورو معلوماتو او وضاحتونو سره

مؤلف

حضرت مولانا مشتاق احمد صاحب چرتهاوَلی رحمة الله علیه

ژباړن:

عبدالمتین عاطفي

د کتاب پیژندنه

❖ دکتاب نوم : علم النحو پښتو

❖ مؤلف : حضرت مولانا مشتاق احمد صاحب چرتهاؤلی رحمة الله علیه

❖ ژباړن : عبد المتین عاطفي صاحب

❖ د خپرولو کال : ستمبر ۲۰۱۳ بمطابق شوال ۱۴۳۴ هـ

❖ پر لیکه کوونکی : عزت الله سلطانزي

❖ ناشر : جدیدمکتبه رشیدیه

بسم الله الرحمن الرحيم

د ژباړن ځو خبرې

(۱) سره له دې چې نقليه علوم لوی شان لري خو په خپل وضات او د حقايقو په نفاذ کې علم نحو ته اړتيا لري.

د الله جل جلاله دپاک کلام ادارک، دعلم تفسير د باريکيو فهم د رسول الله ﷺ په مبارکو احاديثو پوهېدل،دعقايدو په اصولو،دشرعې دلائلوپه حکمونواوفقهي مسئلو پوهېدنه پرته له علم نحوګران او ناشونې کار دی، دقرآن او سنت په پوهېدو کې علم نحو دملادتېرحيثيت لري، په دې کې دمهارت نه پرته د قرآن او احاديثو په معنا پوهېدل ناممکن دي، په عربي علومو کې علم نحواساسي مقام لري،مخکنيو او وروستنيو ډېرو عالمانو په دې فن کې عمده عمده کتابونه ليکلي دي، دعلم نحو په الهام او ارشاد سره د دين امامان د اجتهاد لوړو منازلوته رسيدلي دي.

له همدې امله پخوانيو او وروستنيو ټولو عالمانو په دې خبره اجماع کړې ده چې علم نحو د اجتهاد په رتبه کې لومړی شرط دی، که کوم امام ټول علوم زده کړي، بياهم د اجتهاد رتبې ته ترهغه پورې نشي رسېدلای،ترڅوېې علم نحو سمه زده کړې نه وي.

علم نحو دعربي ژبې د زده کونکو وسيله،دلغوي سلاح او د بلاغي لپاره تکيه ده،نو د تعجب خبره نه ده چې علم نحو ته پخوانيو عالمانو د عربيت مېزان ويلی دی.

حضرت عمر رضي الله عنه دعلم نحو داهميت په اړه داسې فرمايي

تَعَلَّمُوا النَّحْوَ كَمَا تَتَعَلَّمُوْنَ السُّنَنَ وَالْفَرَائِضَ.

ژباړه: علم نحو داسې زده کړئ لکه څرنګه چې د حديثو او ميراثو علم زده کوئ!

حضرت حسن بصري رحمة الله عليه ته يوسړی راغی، دروازه يې ودبوله او اواز يې وکړ.

يا ابوالحسن البصری! هغه ورته ځواب ورنه کړ، بيايې ووېل: يا ابی الحسن البصری! بيا هم هغه ورته ځواب ورنه کړ، په دريم ځل له دننه ورته داسې غږ راغی: قُلِ الثَّالِثَةَ وَادْخُلْ! يعنې دريم اعراب (يا اباالحسن البصری) ووايه او را داخل شه!

ځکه چې منادی مضاف منصوبه وي، نو هغه شخص بيا ووېل يا ابو الحسن البصری، نو حسن بصري رحمة الله عليه ورته ووېل راځه! که هغه سړي دريم ځل هم غلط اعراب ويلی وای، نو کورته دننوتلو اجازه يې نه ورکوله.

له دې نحوي لطيفې څخه هم دعلم نحو عظمت او اهميت څرګنديږي.

(۲) دجديدمکتبه رشيديه ديني خپرندويه ادارې علم دوست مشرقدرمن مولوی سيدمحمد حقاني په زيار او هڅو الحمدلله په سلګونو پښتو او فارسي درسي اوغيردرسي ګټور علمي کتابونه چاپ او ژباړل کړي چې له پاکستان او افغانستان پرته ان تر تاجکستان او ازبکستان هېوادونو پورې يې کتابونه رسيدلي او رسيږي چې دا دنوموړي مولوي صاحب لوی ديني خدمت دی.

(۲) ددیني مکتبو اوخپرندویه ادارو مشران اوکارکوونکي-

ماشاء الله ددیني هراړخیزومعلوماتو په اړه مهم او ګټور کتابونه ټولنې ته وړاندې کوي، خو یوشي ته د دوی پام راګرځوم،هغه داچې دوی د کتابونو په چاپ ډېر زیات مصرفونه او خرچې کوي، خوبیاهم ځینې کتابونه دومره د لیکدود،لیک نښو او کمپیوټري املائي غلطیانې لري چې ځینې ځایونه یې هیڅ دلوست وړتیا نه لري،نو دې ستونزوته په کتو سره د کتابتونونو او خپرندویه ادارو له قدرمنو مشرانو هیله او ارزولرم چې دوی له تعجیل (تلوارې) کاروانخلې اوبواځې مادي ګټو ته په پام سره د ښوونکو او زده کونکو ستونزې زیاتې نه،بلکې کمې کړي.

داچې د خپرندویه ټولنو مشران ډېر زیات مصارف په غاړه اخلي، نو که ورسره خپل چاپ ته تیارکتابونه او رسالې له چاپ څخه دمخه ماهرو استاذانو او لیکوالانوته د څو څو واره سمونو لپاره دځه وخت او لږ حق الزحمة په غاړه اخیستو سره وسپاري، نو که خدای کول دا ستونزه به موهم حل شوې وي.دمثال په ډول علم نحو چې د قاعدو او صحیح تلفظ کولو لپاره لوستل کېږي،ځکه چې د علم نحو دویلو مقصد همدا وي چې په عربي ژبې کې ذهن د لفظي خطا څخه پاک شي، نو که دیوې ژبې د ګرامر (قواعدو) کتاب موهم لفظي غلطي ولري، نو(خدای مه کړه) د علم نحو غرض به مونه وي پېژندلی او د پښتو ژبې نوره املاء به ګرانه وي یا نه،خو د(یاکانو) په اړه څه ناڅه ستونزه اروموو شته.

(۴) ددې لپاره چې داصل کتاب(اردو علم النحو)د ژباړې امانت او د ژباړې حق مې ادا کړی وي، نو ځینې اړین او ګټور وضاحتونه مې په حاشیو(لمن لیکونو)کې ځای پرځای کړي او بین السطور (دکرښو ترمنځ) موکه ځینې زیاتونې تر سترګو کېږي،هغه به مې د لوستونکو دښې پوهېدنې دپاره کړي وي، نه داچې په اصل کتاب کې څه لاس وهنه وکړم او بل داچې طبعي ده،هرنوی کار خامخا ستونزې لري،نوزما هم د ژباړې او تالیف په لور دا لومړی قدم دی، زما ژباړه به هم کېدای شي یولړ کمزورتیاوې ولري، نوله قدرمنو ښوونکو او زده کوونکو هلیه لرم چې د تنقیدپرځای راته لارښوونه وکړي او په خپلو مشورو مي ونازوي.

په همدې هیله: عبدالمتین عاطفي
۱۴۳۶هـ ق ۱۵ جمادی الاولی



لړلیک

لړلیک

سرلیک مخ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّيْ وَنُسَلِّمُ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ.

د علم نحو تعریف: نحو په لغت کې طرف او یا قصد کولو ته وايي او په اصطلاح کې هغه اصول او قوانین دي، چې د هغوی په ذریعه مونږ معرب او مبني پېژنو او د هرې کلمې د اخري حرف حالت رابسیي او د یوې کلمې له بلې سره د ترکیب طریقه را پېژني.

فایده: ددې علم داده: چې انسان د عربي ژبې په ویلو او لیکلو کې له هر ډول غلطی نه محفوظ شي، مثلاً زَيْدٌ، دَارٌ، دَخَلَ، فِيْ داخلور کلمې دي اوس دا څلور واړه یو ځای کول یوه جمله ترې جوړول او دا په صحیح طریقه باندې ادا کول له علم نحو څخه زده کیږي.

موضوع : ددې علم کلمه او کلام ده.

اول فصل

کلمه او کلام

د لفظ پېژندنه: کومه خبره چې د انسان له خولې د ژبې په واسطه راوزي هغې ته لفظ وايي بیا لفظ که چېرته معنا لري نو ددې نوم موضوع ده او که چېرته بې معنا وي نو مهمل ده.

په عربي ژبه کې د لفظ موضوع دوه ډوله دي: ۱- مفرد ۲- مرکب

۱- **مفرد:** هغه ده چې یو لفظ په یوه معنا دلالت کوي او دې ته کلمه هم ویل کیږي.

کلمه په درې ډوله ده: ۱- اسم ۲- فعل ۳- حرف.

اسم: هغه کلمه ده چې معنا یې له یو ځایوالي د بلې کلمې معلومیږي او په دې کې د دریو زمانو (ماضي، حال او مستقبل) نه کومه زمانه ونه موندل شي، لکه: رَجُلٌ، عِلْمٌ، مِفْتَاحٌ

د اسم درې ډولونه دي: ۱- جامد ۲- مصدر ۳- مشتق.

جامد: هغه اسم ده چې نه خپله د کوم لفظ نه جوړ شوی وي او نه له ده نه کوم لفظ جوړیږي لکه: رَجُلٌ، فَرَسٌ او داسې نور

مصدر: هغه اسم ده چې خپله دکوم لفظ نه جوړ نه وي خو ده نه ډیر لفظونه جوړیږي، لکه: نَصْرٌ، ضَرْبٌ او داسې نور.

مشتق: هغه اسم ده چې له مصدره جوړ وي لکه: د ضَرْبٌ ضَارِبٌ او د نَصْرٌ نه نَاصِرٌ چې جوړیږي.

فعل: هغه کلمه ده چې معنا یې د بلې کلمې له ځایوالي پرته معلومیږي او دی به د دریو زمانو (ماضي، حال اواستقبال) څخه تر یوې پورې تړلی وي. لکه: نَصَرَ يَنْصُرُ، ضَرَبَ يَضْرِبُ.

فعل په څلور ډوله دی: ۱- ماضي ۲- مضارع ۳- امر ۴- نهي، د دوی تعریفونه په "علم صرف" کې بیان شوي دي.

حرف: هغه کلمه ده چې معنا یې د بلې کلمې سره له یوځایوالي پرته نه معلومیږي، لکه: مِن او فِي چې تر څو پورې له دې حرفونو سره کوم اسم یا فعل یو ځای نه شي؛ نو معنا ورڅخه نا

حاصلیږي، لکه: خَرَجَ زَیْدٌ مِنَ الدَّارِ، دَخَلَ عَمْرٌو فِي الْمَسْجِدِ.

حرف په دوه ډوله دی: ۱- عامل ۲- غیر عامل.

۲- **مرکب:** هغه لفظ دی چې د دوه یا زیاتو کلمو له یو ځای کولو جوړیږي.

دا په دوه ډوله دی: ۱- مفید ۲- غیر مفید.

مرکب مفید: هغه مرکب دی چې ویونکی کله یوه خبره وکړي؛ نو اوریدونکي ته د تېرې واقعې خبر، یا د یوې خبرې طلب (غوښتنه) معلوم شي لکه: ذَهَبَ زَیْدٌ (زید لاړ) اِیْتِ بِالْمَاءِ! (او به راوړه!) له اولې خبرې نه اوریدونکي ته د زید د تللو خبر معلوم شو، او له دویمې خبرې نه دا معلومه شوه چې ویونکی اوبه غواړي.

مرکب مفید ته "جمله" او "کلام" هم ویل کیږي.

جمله په دوه ډوله ده: ۱- جمله خبریه ۲- جمله انشائیه.

جمله خبریه: هغه جمله ده چې ویونکي ته یې رښتونی یا دروغجن ویل کیږي.

بیا جمله خبریه په دوه ډوله ده. ۱- جمله اسمیه ۲- جمله فعلیه.

جمله اسمیه: هغه جمله ده چې لومړۍ برخه یې اسم وي او دویمه برخه یې کله اسم او کله فعل وي، لکه: زَیْدٌ عَالِمٌ او زَیْدٌ عَلِمَ، له دې څخه هره یوه جمله اسمیه خبریه ده او د دوی لومړی برخه مسندالیه ده چې مبتدا بلل کیږي او دویمه برخه یې مسند ده چې هغې ته خبر ویل کیږي، د جملې اسمیې خبریې په معنا کې (دی، یم، یې، وي) راځي.

جمله فعلیه: هغه جمله ده چې لومړۍ برخه یې فعل او دوېمه برخه یې فاعل وي، لکه: عَلِمَ زَيْدٌ، سَمِعَ بَكْرٌ، له دوی څخه هره یو جمله فعلیه ده، لومړۍ برخه د هر یو مسند ده چې ورته فعل ویل کیږي او دویمه برخه یې مسندالیه ده چې ورته فاعل ویل کیږي.

مسندالیه: هغه ده چې ده ته د کوم اسم یا فعل نسبت شوی وي او دې ته مبتدا وایي، ځکه چې له دې نه د جملې ابتدا (پیل) کیږي لکه: زَيْدٌ عَالِمٌ.

مسند: هغه دې چې د هغه نسبت بل شي ته شوی وي او ده ته خبر ځکه وایي چې دا د اول اسم د حال خبر ورکوي

یادونه: اسم مسند او مسندالیه دواړه کیدی شي، لکه زَيْدٌ عَالِمٌ چې په دې کې زَيْدٌ او عَالِمٌ دواړه اسمونه دي او د عَالِمٌ نسبت زَيْدٌ ته شوی، له دې وجې زَيْدٌ مسندالیه او عَالِمٌ مسند شو.

فعل مسند وي، مسندالیه نه شي کیدی، لکه: زَيْدٌ عَلِمَ او عَلِمَ زَيْدٌ، په دغو دواړو جملو کې د عَلِمَ نسبت زَيْدٌ ته شوی له دې وجې عَلِمَ مسند او زَيْدٌ مسندالیه دی.

حرف نه مسند کیدی شي نه مسندالیه.

ترکیب: د جملې اسمیې ترکیب داسې کیږي: زَيْدٌ مبتدا

عَالِمٌ خبر، مبتدا سره له خبره جمله اسمیه خبریه شوه.

او د جملې فعلیې ترکیب داسې کیږي: عَلِمَ فعل زَیْدٌ فاعل، فعل سره له فاعله جمله فعلیه خبریه شوه.

تمرین

ترکیب بیان کړئ!

اَلطَّعَامُ حَاضِرٌ. اَلْمَاءُ بَارِدٌ. اَلْاِنْسَانُ حَاكِمٌ.

جَلَسَ زَيْدٌ. ذَهَبَ عَمْرٌو. شَرِبَتْ هِنْدٌ.

اَكَلَ خَالِدٌ. نَصَرَ بَكْرٌ.

جمله انشائیه: هغه جمله ده چې ویونکي ته یې ریښتوني یا دروغجن نه شي ویل کېدی، ځکه چې د انشاء معنا ده د یو شي پیدا کول او دا جمله هم د یو کار د پیدا کولو بنودنه کوي، ربنتیا او دروغ په کې نه راځي لکه: اِضْرِبْ ووهه! یعنې (وهل پیدا کړه)

د جمله انشائیه ډولونه

۱- **امر** لکه: اِضْرِبْ (ووهه!)

۲- **نهي** لکه: لَا تَضْرِبْ (مه وهه!)

۳- **استفهام**(پوښتنه کول) لکه: هَلْ ضَرَبَ زَيْدٌ؟ (آیا زید وهل کړي دي؟)

۴- **تمنّی** (ارزو کول) دا په ممکن او ناممکن دواړو کې

استعماليږي، لکه: لَيْتَ زَيْدًا حَاضِرٌ (کاش! زيد حاضر وای)

٥- **ترجي** (امید کول) دا یواځې په ممکن کې استعماليږي لکه: لَعَلَّ عَمْرًا غَائِبٌ (امید ده چې عمرو به غائب وي)

٦- **عقود** (یعنې معاملات) لکه: بِعْتُ[1] وَاشْتَرَيْتُ (یعنې ماخرڅ کړو او ما واخیست)

٧- **ندا** (اوازکول) لکه: يَا اَللّٰهُ (ای خدایه!)

٨- **عرض**[2] لکه: اَلَا تَأْتِيْنِيْ فَأُعْطِيَكَ دِيْنَارًا (ماته ولې نه راځې، چې تاته اشرفی درکړم)

٩- **قسم** لکه: وَاللّٰهِ لَاَضْرِبَنَّ زَيْدًا (په الله قسم! زه به زید ضرور وهم)

١٠- **تعجب** (حیرانتیا ښکاره کول) لکه: مَا اَحْسَنَهُ! (کوم شي هغه ښایسته کړی) اَحْسِنْ بِهِ (هغه څومره ښایسته دی)

مرکب غیر مفید: هغه دی چې خبرې کوونکی (متکلم) خبره

---

(١) واضحه دې وي چې بِعْتُ او اشْتَرَيْتُ په اصل کې جمله فعليه خبريه ده، خو چې کله د خريد او فروخت په وخت کې بايع او مشتري بِعْتُ واشْتَرَيْتُ ووايي؛ نو دا به خبر نه وي ځکه چې په دې کې د رښتيا او درواغو احتمال نه وي له دې وجې دې قسم ته انشاء په صورت د خبر ويل کيږي، هو! که چېرته څوک د اخيستلو او خرڅولو له وخت څخه پرته ووايي چې بِعْتُ الْفَرَسَ، اشْتَرَيْتُ الْكِتَابَ؛ نو په دې وخت کې به جمله خبريه وي.

(٢) عرض تمنّی ته قريب ده، ځکه چې دا په حقيقت کې تېزول او پارول دي او يو څوک پر هغه شي تېزول چې دی يې تمنا (ارزو) لري.

وکړي؛ نو اوریدونکي ته له دې خبرې نه کومه فایده د خبر یا طلب حاصله نشي.

مرکب غیر مفید

مرکب غیر مفید په درې ډوله دی: ۱- **مرکب اضافي**
۲- **مرکب بنائي** ۳- **مرکب منع صرف**.

۱- **مرکب اضافي**: هغه مرکب ده چې په دې کې د یو اسم اضافت بل اسم ته شوی وي، د چاچې اضافت شوی وي هغه ته مضاف او چاته چې یې اضافت شوی وي هغه ته مضاف الیه ویل کیږي، لکه په غُلَامُ زَیْدٍ کې د غُلَامُ اضافت زَیْدٍ ته شوی ده؛ نو غُلَامُ مضاف او زَیْدٍ یې مضاف الیه شو.

۲- **مرکب بنائي**: هغه دی چې دوه اسمونه یو کړل شي او په دواړو کې څه نسبت اضافي یا اسنادي نه وي، دارنګه د اول اسم له دویم سره د ربط ورکولو والا یو حرف په کې پټ وي، لکه: د أَحَدَعَشَرَ نه تر تِسْعَةَ عَشَرَ پورې، چې په اصل کې أَحَدٌ وَّ عَشَرٌ- او تِسْعَةٌ وَّ عَشَرٌ وو، "واو" یې حذف کړو دواړه اسمونه یې یو کړل.
د مرکب بنائي په دواړو اسمونو باندې همېشه فتحه وي یعنې مبني وي پرته له إِثْنَا عَشَرَ- نه چې د ده اوله برخه بدلیږي را بدلیږي یعنې معرب ده.

۳- **مرکب منع صرف**: هغه دی چې دوه اسمونه یو کړی شي او دواړو اسمونو ته د ربط (تړون) ورکولو والا حرف نه وي، لکه:

بَعْلَبَكَّ چې د يو ښار نوم دی، چې د بعل او بَكَّ نه مركب دی، بَعْلَ د يو بت نوم دی او بَكَ د ښار د باني (جوړوونكي) بادشاه نوم دی.

د مركب منع صرف لومړی برخه همېشه مفتوحه وي او دويمه برخه يې بدلېږي را بدلېږي.[۱]

يادونه: مركب غير مفيد همېشه د جملې يوه برخه وي او پوره جمله نه وي، لكه: "غُلَامُ زَيْدٍ حَاضِرٌ" كې غُلَامُ زَيْدٍ، او په "جَاءَ أَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا" كې أَحَدَ عَشَرَ، او په "إِبْرَاهِيْمُ سَاكِنُ بَعْلَبَكَّ" كې بَعْلَبَكَّ.

تركيب: د هرې يوې جملې داسې دی: غُلَامُ مضاف، زَيْدٍ مضاف اليه، مضاف سره له مضاف اليه مبتدا، حَاضِرٌ يې خبر، مبتدا سره له خبره دا جمله اسميه خبريه شوه، جاءَ فعل، أَحَدَ عَشَرَ مميز، رجلاً تميز، مميز سره له تميزه دا فاعل شو د جاء، فعل سره له فاعله دا جمله فعليه خبريه شوه.

إِبْرَاهِيْمُ مبتدا، سَاكِنُ مضاف، بَعْلَبَكَّ مضاف اليه، مضاف سره له مضاف اليه نه دا خبر شو د مبتدا لپاره، مبتدا سره له خبره دا جمله اسميه خبريه شوه.

---

[۱] په دې كې درې لغات دي: (۱) افصح لغت: لومړی برخه مبني په فتحې سره او دويمه برخه معرب غيرمنصرف. (۲) دواړه برخې معربې د لومړی برخې اضافت دويمې ته او غير منصرفوالی د مضاف اليه. (۳) دواړه برخې معربې، د لومړی برخې اضافت دويمې ته او منصرفوالی د دويمې برخې. (شرح جامي)

ترکیب بیان کړئ!

قَلَمُ زَيْدٍ نَفِيْسٌ. قَامَ اَرْبَعَةَ عَشَرَ رَجُلًا. خَالِدٌ تَاجِرٌ حَضَرَ مَوْتَ.

دویم فصل

د جملې ذاتي او صفاتي ډولونه

واضحه دې وي چې هيڅ يوه جمله له دوو کلمو څخه کمه نه وي، يا خو به هغه دواړه کلمې په لفظونو کې موجودې وي، لکه: ضَرَبَ زَيْدٌ، يا به تقديراً وي لکه: اِضْرِبْ چې اَنْتَ په دې کې پټ ده، په لفظ کې نشته.

په جمله کې له دوو نه زياتې کلمې هم راتلی شي خو د زياتو کوم حد نشته، کله چې د جملې کلمات ډير وي نو اسم، فعل او حرف بايد يو له بله سره بېل کړئ! او وګورئ چې معرب دی که مبني؟ عامل دی او يا معمول؟ او دا هم معلومول په کار دي چې د کلماتو تعلق په خپل مينځ کې د يو بل سره څرنګه دی؟ تر څو مسند او مسنداليه ښکاره شي او د جملې صحيح معنی پوهې کې راشي

جمله په اعتبار د ذات سره په څلور ډوله ده:

۱- اسميه ۲- فعليه ۳- شرطيه ۴- ظرفيه

۱- **اسميه** لکه: زَيْدٌ قَائِمٌ

۲- **فعليه** لکه: قَامَ زَيْدٌ

۳- **شرطيه** لکه: اِنْ تُكْرِمْنِيْ اُكْرِمْكَ

۴- **ظرفيه** لکه: عِنْدِيْ مَالٌ

دوی ټولو ته اصلِ جمله ويل کيږي

جمله په اعتبار د صفت سره په شپږ قسمه ده:

۱- **مبيّنه**: هغه جمله ده چې کله تلفظ وربانديې وشي نو لومړۍ جمله واضحه کړي، لکه: اَلْكَلِمَةُ عَلَى ثَلَاثَةِ اَقْسَامٍ: اِسْمٌ وَ فِعْلٌ وَ حَرْفٌ، په دې مثال کې د لومړۍ جملې مطلب په سمه توګه نه معلوميږي، چې هغه کوم درې ډولونه دي، دويمې جملې هغه بيان کړل چې هغه درې ډولونه اسم، فعل او حرف دي.

۲- **معلّله**: هغه جمله ده چې د مخکينۍ جملې علت بيان کړي، لکه: چې په حديث شريف کې دي: "لَا تَصُوْمُوْا فِيْ هٰذِهِ الْاَيَّامِ فَاِنَّهَا اَيَّامُ اَكْلٍ وَ شُرْبٍ وَ بِعَالٍ"

ژباړه: تا سو روژه مه نيسئ په دغو ورځو (عيدين او ايام تشريق) کې، ځکه چې هغه د خوراک، څښاک او د جماع ورځې دي.

ددې حديث شريف په مخکينۍ جمله کې يې پنځه ورځې له روژو نيولو نه منعه فرمايلې ده او ددې علت يې په دويمې جملې کې بيان کړی دی، ځکه چې هغه (پنځه ورځې) د خوراک څښاک او د جماع ورځې دي.

۳- **معترضه**: هغه جمله ده چې د دوو جملو په مينځ کې بې ربطه (بې جوړه) واقع وي، لکه: قَالَ اَبُوْ حَنِيْفَةَ (رَحِمَهُ اللهُ): "اَلنِّيَّةُ فِي الْوُضُوْءِ لَيْسَتْ بِشَرْطٍ" په دغه مثال کې "رَحِمَهُ اللهُ" جمله معترضه ده چې د مخکې او وروسته سره ددې کوم تړاو نشته.

۴- **مستانفه**: هغه جمله ده چې ددی نه نوې خبره پیل شي لکه: اَلْکَلِمَةُ عَلٰی ثَلَاثَةِ اَقْسَامٍ، دې ته "جمله ابتدائیه" هم ویل کېږي.

۵- **حالیه**: هغه جمله ده چې حال واقع وي، لکه: جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَّ هُوَ رَاكِبٌ.

۶- **معطوفه**: هغه جمله ده چې په اولنی جملې باندې عطف وي، لکه: جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَّ ذَهَبَ عَمْرٌو، په دې مثال کې ذَهَبَ عَمْرٌو عطف ده په مخکینی جمله باندې چې جاءَنی زیدٌ ده.

دریم فصل

د اسم علامات

۱- **الف لام** لکه: اَلْحَمْدُ

۲- **حرف جر** دده په شروع کې وي، لکه: بِزَيْدٍ

۳- **تنوین** يې په اخر کې وي لکه: زَيْدٌ

۴- **مسنداليه** وي، لکه: زَيْدٌ قَائِمٌ

۵- **مضاف** وي، لکه: غُلَامُ زَيْدٍ

۶- **مُصغر** وي، لکه: قُرَيْشٌ، رُجَيْلٌ

۷- **منسوب** وي، لکه: بَغْدَادِيٌّ، هِنْدِيٌّ. (اَفْغَانِيٌّ)

۸- **تثنیه** وي، لکه: رَجُلَانِ.

۹- **جمع** وي، لکه: رِجَالٌ.

۱۰- **موصوف** وي، لکه: رَجُلٌ كَرِيْمٌ.

۱۱- **تاء متحرکه** به یې په اخر کې وي خو له هغې نه په مخکې حرف به هم حرکت وي، لکه: ضَارِبَةٌ.

فایده: واضحه دې وي چې فعل تثنیه یا جمع نه شي کېدی او د فعل چې کومو صیغو ته تثنیه او جمع ویل کیږي هغه د فاعل په اعتبار سره وي، لکه: **فَعَلَا، يَفْعَلَانِ** (هغه دوه سړیو کار کړی ؤ، هغه دوه سړي کار کوي) دارنګه **فَعَلُوْا، يَفْعَلُوْنَ** (هغه ډیرو سړیو کار کړی ؤ، هغه ټول سړي کار کوي) کولو والا دوه سړي یا ډیر سړي دي.

دا مطلب نه دی چې دوه کارونه یې وکړل یا ډیر کارونه یې وکړل، کار یې یو وکړو مګر کولو والا دوه سړي، یا ټول سړي شول.

دا خبره ښه په ذهن کې کښېنوه!

د فعل علامات (نښې)

۱- **قَدْ** د هغه په سر کې وي، لکه: **قَدْ ضَرَبَ** (بې شکه هغه وهلی)

۲- **س** یې په سر کې وي، لکه: **سَيَضْرِبُ** (نږدې ده چې هغه وهل وکړي)

۳- **سَوْفَ** یې په شروع کې وي، لکه: **سَوْفَ يَضْرِبُ** (نږدې ده

چې هغه به وهل وکړي،

۴- **حرف جزم** په داخل وي، لکه. لَمْ يَضْرِبْ.

۵- **ضمير متصل** ورپورې پيوست وي، لکه: ضَرَبْتُ.

۶- **ساکنه تاء** يې په آخر کې وي، لکه. ضَرَبَتْ.

۷- **امر** وي، لکه. اِضْرِبْ.

۸- **نهي** وي، لکه. لَاتَضْرِبْ.

د حرف علامات (نښې)

د حرف علامه داده. چې په ده کې د اسم او فعل علامه و نه موندل شي او حقيقت دا دی چې په کلام کې حرف مقصود نه وي بلکې صرف د ربط (تړون) فايده ورکوي او دا ربط کله په دوو اسمونو کې وي، لکه. زَيْدٌ فِي الدَّارِ. يا په يو اسم او فعل کې وي، لکه. كَتَبْتُ بِالْقَلَمِ. او دا ربط کله په دوو فعلونو کې وي، لکه. أُرِيْدُ أَنْ أُصَلِّيَ.

څلورم فصل

د مُعْرَب او مَبْنِيْ بيان

د اخري حرف د تبديلي په اعتبار سره د کلمې دوه ډوله دي:

۱- **معرب** ۲- **مبني**

مُعْرَبْ: هغه کلمه ده چې د ده اخري حرف همېشه بدلېږي نو چې په کوم سبب سره دا تبديلي راځي هغه ته عامل ويل کيږي او کوم چې له اخري حرف نه بدلېږي هغه ته اعراب ويل کيږي.

اعراب په دوه قسمه دي:

۱- **حرکتي،** لکه: ضمه، (پېښ) فتحه، (زبر) کسره (زېر).

۲- **حرفي** لکه: "الف، واو، یا".

آخري حرف ته محل د اعراب ویل کیږي، لکه: جَاءَ زَيْدٌ، په دې کې جَاءَ عامل ده او په زَيْدٌ باندې ضمه ده، په رَاَيْتُ زَيْدًا کې رَاَيْتُ عامل ده او په زَيْدًا فتحه ده او په مَرَرْتُ بِزَيْدٍ کې "بِ" حرف جر عامل ده او "زیدٍ" باندې کسره ده، نو "زید" معرب ده او د "زید" اخري حرف "د" محل د اعراب ده، ضمه، فتحه او کسره اعراب دي.

مُبْنِي: هغه کلمه ده چې همېشه په یوه حال وي، یعنې د عامل په بدلېدلو سره دده په آخري حرکت کې څه تبدیلي نه راځي، لکه: جَاءَ هٰذَا، رَاَيْتُ هٰذَا، مَرَرْتُ بِهٰذَا، په دغو مثالونو کې هٰذَا مبني ده چې په هر حالت کې یو شان ده.

مَبْنِي آن باشد که ماند بر قرار
مُعْرَب آن باشد که گردد بار بار

"مبني هغه وي چې په یو حالت پاتې کیږي او معرب هغه وي چې بدلیږي رابدلیږي".

د معرب او مبني اقسام

په ټولو اسمونو کې یواځې اسم غیر متمکن مبني دی او په افعالو کې فعل ماضي، امر حاضر معروف او فعل مضارع چې په هغې کې "نون د جمع مؤنث" او "نون د تاکید" وي او ټول حروفِ معنٰی مبني دي

اسمِ مُتمَکّن معرب دی په دې شرط چې په ترکیب کې واقع وي او که په ترکیب کې نه وي؛ نو مبني به وي او بل شرط د اسم متمکن د معرب کېدلو دپاره دا دی چې مشابهت به له مبني اصل سره نلري

مُتمَکّن له دې وجې ورته ویل کیږي چې د متمکّن معنی ده ځای ورکول او څرنګه چې دا اسم اعراب ته ځای ورکوي، له دې وجې ده ته اسم متمکّن ویل کیږي او دا د مبنی الاصل سره مشابهت هم نلري

او فعل مضارع معرب ده په دې شرط چې د"نون جمع مؤنث" او "نون تاکید" نه خالي وي؛ نو ددې دوه قسمونو نه پرته نور معرب نه شي کیدی، یعني یو هغه اسم چې د مبنی الاصل سره مشابه نه وي او یو فعل مضارع چې د "نون جمع مؤنث" او "نون تاکید" نه خالي وي دا دواړه معرب دي

اسمِ غیر مُتمَکّن هغه اسم ده چې د مبني اصل سره مشابه وي مبني اصل درې دي

۱- فعل ماضي ۲- امر حاضر معروف ۳- ټول حروف

او دا مشابهت په څوطریقو سره کېدی شي یا به په اسم کې معنی د مبنی الاصل موندل کیږي، لکه اَیْنَ کې د همزه د استفهام معنی موندل کیږي او همزه د استفهام حرف مبنی الاصل دی او په هَیْهَاتَ کې د ماضي معنی ده او په رُوَیْدَ کې د امر حاضر معنی ده، ماضي اوٌ امر مبنی الاصل دي او یا څرنګه چې

حرف محتاج وي هم داسې په اسم غير متمكن كې هم احتياج موجود دی، لكه اسماء موصولات او اسماء اشارات چې دا د صلې او مشاراليه محتاج دي، يا به په اسم غير متمكَن كې د دريو حرفونو نه كم وي، لكه: مَنْ، ذَا، يا به ددې څه برخه حرف ته شامل (متضمن) وي لكه: اَحَدَعَشَرَ- چې په اصل كې اَحَدٌو عَشَرٌ و.

پنځم فصل

د اسم غير متمكن اقسام

د اسم غير متمكن يا مبني اته قسمونه دي:

۱- مضمرات. ۲- اسماء موصولات. ۳- اسماء اشارات.
۴- اسماء افعال. ۵- اسماء اصوات. ۶- اسماء ظروف.
۷- اسماء كنايات. ۸- مركبِ بنائي.

۱- مضمرات [۱] پنځه قسمه دي:

۱- مرفوع متصل. ۲- مرفوع منفصل. ۳- منصوب متصل.
۴- منصوب منفصل. ۵- مجرور متصل

يادونه: مجرور منفصل نشي راتلای.

ځكه چې د جار او مجرور او يا مضاف او مضاف اليه ترمنځ انفصال (جدايي) نشي راتلای او ضمير مجرور خو يا مجرور په حرف جر او يا مجرور په اضافت سره وي.

ضميرِ مرفوع متّصل: (يعنې د فاعل هغه ضمير چې د فعل سره

---

[۱] مضمرات د مضمر جمع ده او مضمر ضمير ته ويل كيږي او ضمير هغه اسم معرفه ته ويل كيږي چې هغه په مخاطب، متكلم، يا غائب باندې دلالت وكړي.

یو ځای وي، او دا په څوارلسو صیغو پورې پیوست کیږي تفصیل یې په لاندې ډول دی:

ضَرَبْتُ	ضَرَبْنَا	ضَرَبْتَ	ضَرَبْتُمَا	ضَرَبْتُمْ	ضَرَبْتِ	ضَرَبْتُمَا
ضَرَبْتُنَّ	ضَرَبَ	ضَرَبَا	ضَرَبُوْا	ضَرَبَتْ	ضَرَبَتَا	ضَرَبْنَ

ضمیرِ مرفوع منفصل (یعنې د فاعل هغه ضمیر چې له فعل څخه جدا وي) څوارلس دي:

اَنَا	نَحْنُ	اَنْتَ	اَنْتُمَا	اَنْتُمْ	اَنْتِ	اَنْتُمَا
اَنْتُنَّ	هُوَ	هُمَا	هُمْ	هِيَ	هُمَا	هُنَّ

یادونه: ضمیر مرفوع پرته له فاعل نه د نورو مرفوعاتو دپاره هم راځي، دلته یې د اسانۍ دپاره یواځې د فاعل ذکر وکړو.

ضمیر منصوب متصل (یعنې د مفعول هغه ضمیر چې د فعل سره یو ځای وي) څوارلس دي:

ضَرَبَنِيْ ضَرَبَنَا ضَرَبَكَ ضَرَبَكُمَا ضَرَبَكُمْ ضَرَبَكِ ضَرَبَكُمَا

ضَرَبَكُنَّ ضَرَبَه ضَرَبَهُمَا ضَرَبَهُمْ ضَرَبَهَا ضَرَبَهُمَا ضَرَبَهُنَّ

ترکیب: **ضَرَبَ** فعل، په دې کې ضمیر د **هُوَ** مقدر (پټ) دی هغه یې فاعل، "نون" د وقایه، "یا" ضمیر د متکلم مفعول به، فعل سره له خپل فاعل او مفعول به دا جمله فعلیه خبریه شوه.

ضمیر منصوب منفصل: (یعنې د مفعول هغه ضمیر چې له فعل نه جدا وي) څوارلس دي:

اِیَّايَ	اِیَّانَا	اِیَّاكَ	اِیَّاكُمَا	اِیَّاكُمْ	اِیَّاكِ	اِیَّاكُمَا
[illegible]	اِیَّاهُ	اِیَّاهُمَا	اِیَّاهُمْ	اِیَّاهَا	اِیَّاهُمَا	اِیَّاهُنَّ

یادونه: ضمیر منصوب پرته له مفعول نه د نورو منصوباتو دپاره هم راځي دلته یې د اسانۍ دپاره صرف د مفعول ذکر وکړو.

ضمیر مجرور متصل: هم څوارلس دي او دا په دوه ډوله دي:

یو هغه چې ورباندې حرف جر داخل وي او دویم هغه چې په هغه باندې مضاف داخل وي.

ضمیر مجرور په حرف جر

لِيْ	لَنَا	لَكَ	لَكُمَا	لَكُمْ	لَكِ	لَكُمَا
لَكُنَّ	لَه	لَهُمَا	لَهُمْ	لَهَا	لَهُمَا	لَهُنَّ

ضمیر مجرور په اضافت

دَارِيْ	دَارُنَا	دَارُكَ	دَارُكُمَا	دَارُكُمْ	دَارُكِ	دَارُكُمَا
دَارُكُنَّ	دَارُه	دَارُهُمَا	دَارُهُمْ	دَارُهَا	دَارُهُمَا	دَارُهُنَّ

فایده: کله د جملې نه مخکې ضمیر غائب پرته له مرجع نه واقع کیږي؛ نو که چیرته هغه ضمیر د مذکر وي؛ نو ده ته "ضمیر شان" ویل کیږي او که چیرته ضمیر د مؤنث وي؛ نو "ضمیر قصّه" ورته وایي او له دې دواړو ضمیرونو وروسته چې کومه جمله وي هغه به د دوی لپاره تفسیر وي، لکه: اِنَّه زَيْدٌ قَائِمٌ (په تحقیق سره شان دا دی چې زید ولاړ دی) او اِنَّهَا زَيْنَبُ قَائِمَةٌ (په تحقیق سره قصه دا ده چې زینب ولاړه ده).

۲ - اسماء موصولات

چې ټول څوارلس دي

(١)اَلَّذِيْ هغه يو سړی چې	(٢)اَلَّذَانِ هغه دوه سړي چې	(٣)اَلَّذَيْنِ هغه دوه سړي چې	(٤)اَلَّذِيْنَ هغه ډير سړي چې	(٥)اَلَّتِيْ هغه يوه ښخه چې	(٦)اَلَّتَانِ هغه دوه ښځې چې
(٧)اَللَّتَيْنِ هغه دوه ښځې چې	(٨)اَللَّاتِيْ هغه ډيرې ښځې چې	(٩)اَللَّوَاتِيْ هغه ټولې ښځې چې	(١٠)مَا هغه شی چې	(١١)مَنْ هغه کس چې	(١٢)اَيٌّ (١٣)اَيَّةٌ

(١٤)او هغه "الف لام"چې په معنا د اَلَّذِيْ په اسم فاعل او اسم مفعول داخليږي، لکه: اَلضَّارِبُ په معنا د اَلَّذِيْ ضَرَبَ او اَلْمَضْرُوْبُ په معنا د اَلَّذِيْ ضُرِبَ، او ذُوْ په معنا د اَلَّذِيْ د بني طی د قبيلې په ژبه کې، لکه: جَاءَ ذُوْ ضَرَبَكَ په معنا د اَلَّذِيْ ضَرَبَكَ

اَيٌّ، و اَيَّةٌ: معرب دي او بې له اضافته د دوی استعمال نه شي کېدی.

فايده: اسمِ موصول هغه اسم ده چې يواځې د جملې پوره جزء، بې له صلې نشي کيدی او دده صله به جمله خبريه وي چې په هغې کې به ضمير د موصول طرف ته راجع کېدونکی وي: ځکه چې جمله مِنْ حَيْثُ هِيَ هِيَ مستقله ده، له چا سره ربط نه قبلوي؛ نو د ضمير په وجه به يې ربط او تړون له مخکې جملې سره پيدا شي. لکه: جَاءَ الَّذِيْ اَبُوْهُ عَالِمٌ (راغی هغه سړی چې دده پلار عالم دی).

ترکيب: جَاءَ فعل، اَلَّذِيْ اسم موصول، اَبُوْ مضاف، (هٗ) ضمير مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مبتدا عَالِمٌ يې خبر شو، مبتدا

سره له خبره دا جمله اسمیه صله شوه د موصول لپاره، موصول سره له صلې دا فاعل د جَاءَ شو، فعل سره له خپل فاعل نه دا جمله فعلیه خبریه شوه.

ترکیب بیان کړئ!

جَاءَالَّذِيْ ضَرَبَكَ. رَاَيْتُ الَّذَيْنِ ضَرَبَاكَ. مَرَرْتُ بِالَّذِيْنَ ضَرَبُوْكَ.

اَكْرِمْ مَنْ اَكْرَمَكَ. قَرَاْتُ مَا كَتَبْتَ.

دریم اسماء اشارات:

اسماء اشارات په دوه قسمه دي: ۱- اشاره قریب: چې د نږدې لپاره کارول کېږي ۲- اشاره بعید: چې د لرې لپاره کارول کېږي.

اشاره قریب داده:

هٰذَا	هٰذَانِ	هٰذِهٖ	هَاتَانِ	هٰؤُلَاءِ
دغه یو سړی	دغه دوه سړي	دغه یوه ښځه	دغه دوه ښځې	دغه ټول سړي یا ټولې ښځې

اشاره بعیده دا ده:

ذٰلِكَ	ذَانِكَ	تِلْكَ	تَانِكَ	اُولٰئِكَ
هغه یو سړی	هغه دوه سړي	هغه یوه ښځه	هغه دوه ښځې	هغه ټول سړي یا هغه ټولې ښځې

فایده: د څه شي طرف ته چې اشاره کېږي هغه ته مشار الیه ویل کېږي، لکه: هٰذَا الْقَلَمُ نَفِيْسٌ، په دې مثال کې اَلْقَلَمُ مشار الیه ده.

ترکیب: هٰذَا اسم اِشاره اَلْقَلَمُ مُشارِالیه، اسم اشاره سره له مشار الیه د امبتدا شوه، نَفِيْسٌ يې خبر، مبتدا سره له خبره دا جمله اسمیه خبریه شوه.

ترکیب بیان کړئ!

هٰذَا الْبَيْتُ قَدِيْمٌ. هٰؤُلَاءِ إِخْوَانُ سَعِيْدٍ. هٰذِهِ الْمَرْأَةُ صَالِحَةٌ.

هَاتَانِ الْبِنْتَانِ أُخْتَانِ. أُولٰئِكَ طُلَّابُ الْمَدْرَسَةِ.

۴- **اسماء افعال:**

هغه اسماء دي چې د فعل په معنی کې استعمالیږي، دا په دوه ډوله دي:

۱- په معنی د امر حاضر لکه:

رُوَيْدَ	بَلْهَ	حَيَّهَلْ	هَلُمَّ	دُوْنَكَ	عَلَيْكَ	هَا
پرېږده!	پرېږده!	متوجه شه!	راشه	واخله!	لازم یې ونیسه!	ونیسه!

۲- اسماء افعال په معنا د فعل ماضي لکه:

هَيْهَاتَ	شَتَّانَ	سَرْعَانَ
لرې شو	جدا شو	تېزي یې وکړه

۵- **اسماء اصوات:**

دا هغه اسماء دي چې څانه پرې اواز کېږي او دا ټول ښځه دی لکه: أُخْ أُخْ د (ټوخي اواز)، أُفْ أُفْ د (درد او تکلیف اواز)، بَخْ بَخْ د (خوشالي اواز)، نَخْ نَخْ د (اوښ د کیناستلو پر وخت ویل کیږي) او غاق د (کارغه اواز) دی.

۶- **اسماء ظروف:**

دا هغه کلمات دي چې په هغوی کې د ظرف زمان او مکان معنی موجودیږي.

۱ - **ظرف زمان:** لکه: إِذْ،إِذَا،مَتٰى، كَيْفَ،أَيَّانَ،أَمْسِ، مُذْ،مُنْذُ، قَطُّ،عَوْضُ،قَبْلُ،بَعْدُ.

إِذْ: د ماضي دپاره راځي، که څه هم په مستقبل باندې داخل وي، او له ده وروسته جمله اسميه او جمله فعليه دواړه راتللی شي، لکه: جِئْتُكَ إِذْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ، وَإِذِ الشَّمْسُ طَالِعَةٌ.

اذا: دا د مستقبل دپاره راځي اوکه په ماضي داخله وي؛ نو ماضي هم په معنی د مستقبل سره ګرځوي، لکه: ((إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللّٰهِ)) او أَتِيكَ إِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ او کله د مفاجات (ناڅاپي) په معنا هم راځي، لکه: خَرَجْتُ فَإِذَا السَّبُعُ وَاقِفٌ (زه ووتلم؛ نو ناڅاپه درنده ولاړ و).

مَتٰى: دا د شرط او استفهام دپاره راځي لکه: مَتٰى تَصُمْ أَصُمْ (چې کله ته روژه نيسې زه هم روژه نيسم) دا د شرط مثال دی. او مَتٰى تُسَافِرُ؟ (ته به کله سفر کوې؟) دا د استفهام مثال دی.

كَيْفَ: دا د حال پوښتلو دپاره راځي، لکه: كَيْفَ أَنْتَ؟ اَیْ فِيْ اَیِّ حَالٍ أَنْتَ؟ (څه حال دې ده؟)

أَيَّانَ: دا د وخت د پوښتلو دپاره راځي، لکه: ((أَيَّانَ يَوْمُ الدِّيْنِ)) (کله ده ورځ د جزا؟).

أَمْسِ: لکه: جَاءَنِيْ زَيْدٌ أَمْسِ. (ماته زيد پرون راغلی و).

مُذْ و مُنْذُ: دا دواړه د کار د ابتدائي مدت لپاره راځي، لکه: **مَا رَاَيْتُه مُذْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ** (ما هغه د جمعې له ورځې راهيسې نه دی ليدلی)

او د پوره مودې دپاره هم راځي، لکه: **مَارَاَيْتُه مُنْذُ يَوْمَيْنِ** (ما هغه دوه پوره ورځې نه دی ليدلی)

قَطُّ: دا د ماضي منفي د تاکيد دپاره راځي لکه: **مَاضَرَبْتُهُ قَطُّ** (ما هغه هيڅکله نه دی وهلی)

عَوْضُ: دا د مستقبل منفي د تاکيد دپاره راځي، لکه **لَا اَضْرِبُه عَوْضُ** (زه به هغه هيڅکله و نه وهم)

قَبْلُ و بَعْدُ: چې کله مضاف وي او مضاف اليه يې له لفظ څخه حذف شوی وي؛ خو د متکلم په نيت کې وي، لکه: د الله تعالی فرمان ده: ((**لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَ مِنْ بَعْدُ**)) اَیْ **مِنْ قَبْلِ كُلِّ شَيْءٍ وَ مِنْ بَعْدِ كُلِّ شَيْءٍ**، او لکه: **اَنَا حَاضِرٌ مِنْ قَبْلُ** يعني **مِنْ قَبْلِكَ**، **مَتٰى تَجِيئُنَا بَعْدُ** يعني **بَعْدَ هٰذَا**.

۲- **ظرفِ مکان**: **حَيْثُ، قُدَّامُ، خَلْفُ، تَحْتُ، فَوْقُ، عِنْدَ، اَيْنَ، لَدٰی، لَدُنْ** دي

حَيْثُ: اکثر جملې ته مضاف وي، لکه: **اِجْلِسْ حَيْثُ زَيْدٌ جَالِسٌ** يعني **اِجْلِسْ مَكَانَ جُلُوْسِ** ...

قُدَّامُ وَ **خَلْفُ** لکه: قَامَ النَّاسُ قُدَّامُ وَ خَلْفُ، یعني قُدَّامَه وَ خَلْفَه.

تَحْتُ وَ **فَوْقُ** لکه: جَلَسَ زَیْدٌ تَحْتُ وَ صَعِدَ عَمْرٌ و فَوْقُ، اَیْ تَحْتَ الشَّجَرَةِ وَ فَوْقَ الشَّجَرَةِ مَثَلًا.

عِنْدَ لکه: اَلْمَالُ عِنْدَ زَیْدٍ (مال له زید سره دی).

اَیْنَ وَ **اَنّٰی** د استفهام دپاره راځي، لکه: اَیْنَ تَذْهَبُ؟ (ته چېرته ځې؟) اَنّٰی تَقْعُدُ؟ (ته چېرته کینې؟) او د شرط لپاره هم، لکه: اَنّٰی تَجْلِسْ اَجْلِسْ (چېر ته چې ته کینې هم هلته به زه کېنم) او اَنّٰی تَذْهَبْ اَذْهَبْ (کوم ځای ته چې ته ځې هلته زه هم ځم).

یادونه: او اَنّٰي د کَیْفَ په معنی هم راځي، کله چې د فعل نه وروسته راشي، لکه: د الله تعالی دا قول: ((فَاْتُوْا حَرْثَکُمْ اَنّٰی شِئْتُمْ)) اَیْ کَیْفَ شِئْتُمْ.

ژباړه: نو تاسې ځپلې کروندې (کښت) ته راشئ! چې څرنګه مو خوښه شي، یعنې په هر کیفیت چې وي.

لَدٰی او **لَدُنْ**: دا دواړه د عِنْدَ په معنا راځي او فرق په عِنْدَ او دغو دواړو کې دا دی چې په عِنْدَ کې د شي قبضه او ملک کې کېدل کافي دي، هر وخت له ځانه سره لرل ضروري نه دي، لکه اَلْمَالُ عِنْدَ زَیْدٍ (مال له زید

سره دی، برابره ده که مال په خزانه کې وي یا لـه ده سـره وي او اَلْمَالُ لَدٰی زَيْدٍ په هغه وخت کې ویل کېږي چې کله مال لـه زید سره حاضر وي؛ نو عند عام ده، لَدٰی او لَدُنْ خاص دی.

اوله فایده: قَبْلُ، بَعْدُ، تَحْتُ، فَوْقُ، قُدَّامُ، خَلْفُ، حَيْثُ، قَطُّ، عَوْضُ مبني پـه ضمه دي. **اَيَّانَ، كَيْفَ** او **اَيْنَ** مبني پـه فتحـه دي، **أَمْسِ** مبني په کسره دی او نور ظروف مبني په سکون دي.

دوهمه فایده ظروف غیر مبني چې کله جملې یا اِذْ طرف تـه مضاف وي؛ نو د دوی په فتحې سره مبني کېدل جائز دي. لکه دا قـول د الله تعالی ((هٰذَا يَوْمُ يَنْفَعُ الصَّادِقِيْنَ صِدْقُهُمْ)) دلته یَوْمَ مفتوح ویل جائز دي، لکه يَوْمَئِذٍ او حِيْنَئِذٍ

۷ - **اسماء کنایات**

دا هغه اسماء دي چې په کوم مبهم او غیر معین امر باندې دلالت کوي، لکه کَمْ، او کَذَا کنایه ده له عدد نه. کَيْتَ او ذَيْتَ کنایه ده له قیصې خخه.

۸ - **مرکب بنائي** لکه أَحَدَ عَشَرَ

شپږم فصل
د اسم منسوب بیان

د اسم په اخر کې د نسبت دپاره "یا" نسبتیه مشدده زیاته شي او له "یا" نه مخکې به کسره وي، دې اسم ته اسم منسوب یا صفت نسبتي ویل کېږي.

د اسم په اخر کې د "یا" نسبتیه د لګولو نه د امعلومیږي چې د دې سره د کوم شي تعلّق دی، لکه بَغْدَادِيٌّ (د بغداد اوسیدونکی یا په بغداد کې پیدا شوی) او هِندِيٌّ (په هند کې او سیدلو والا یا په هند کې پیدا شوی)، صَرَفِيٌّ (په صرفو پوه)، نَحْوِيٌّ (په علم نحو پوه).

لاندې د نسبت په اړه څو ضروري قاعدې لیکل کېږي.

۱- الف مقصوره چې کله په کلمه کې دریم یا څلورم ځای واقع وي؛ نو په "واو" سره بدلیږي، لکه د عِیسٰی نه عِیسَوِيٌّ او د مَولٰی نه مَولَوِيٌّ، او که "الف مقصوره" پنځم ځای واقع وي؛ نو غورځېږي (حذف کیږي) لکه: د مُصْطَفٰی نه مُصْطَفِيٌّ

۲- د الف ممدوده نه وروسته "همزه" په "واو" سره بدلیږي، لکه سَمَآءٌ نه سَمَاوِيٌّ او د بَيْضَآء نه بَيْضَاوِيٌّ چې جوړ شوی ده

۳- په اسم کې چې "یا" مشدده د مخوانه موجوده وي هلته د "یا" نسبتیې د لګولو ضرورت نشته، لکه شَافِعِيٌّ (د یو امام نوم دی) او شَافِعِيٌّ (د امام شافعي صاحب د مذهب پیرو ته هم ویل کېږي).

۴- کله چې په اسم کې "تاء د تانیث" وي؛ نو هغه د نسبت په وخت غورځېږي، لکه د کُوْفَةٌ نه کُوفِيٌّ او د مَکَّةٌ نه مَکِّيٌّ جوړېږي، همدارنګه چې کوم اسم د فَعِيلَةٌ او فُعَيلَةٌ په وزن باندې وي د هغه "ة" هم غورځېږي، لکه: مَدِيْنَةٌ نه مَدَنِيٌّ او د جُهَيْنَةٌ نه جُهَنِيٌّ جوړېږي.

۵- کوم اسم چې د فَعِيلٌ په وزن وي او دده په اخر کې مشدَّده "یاء" وي نو اوله "یاء" به حذف کېږي او دویمه "یاء" به په واو بدلیږي او له "واو" نه مخکې حرف ته به فتحه ورکول کیږي او په اخر کې به "یاء" د نسبت ولګول شي، لکه د عَلِيٌّ نه عَلَوِيٌّ او د نَبِيٌّ نه نَبَوِيٌّ

۶- که چېرته "یاء" څلورم ځای وروسته له کسرې واقع وي؛ نو د "یاء" حذف کول او په "واو" سره بدلول دواړه جائز دي، لکه د دِهلِيِ نه دِهلِيٌّ او دِهلَوِيٌّ دواړه ویل روا دي

۷- که د کوم اسم د اخر نه حرف اصلي حذف شوی وي؛ نو د نسبت په وخت کې به بېرته راواپس کېږي، لکه: د اَخٌ نه اَخَوِيٌّ، او د اَبٌ نه اَبَوِيٌّ او د دَمٌ نه دَمَوِيٌّ ویل روا دي

۸- د بعضو الفاظو نسبت خلاف قیاس راځي، لکه: د نُوْرٌ نه نُوْرَانِيٌّ او د حَقٌّ نه حَقَّانِيٌّ، د رَیٌ نه رَازِيٌّ او د بَادِيَةٌ نه بَدَوِيٌّ شو

اووم فصل

اسمِ تصغیر

په کوم اسم کې چې د وړوکوالي، یا سپکوالي معنا ظاهره شي هغه ته اسمِ تصغیر وايي

د تصغیر ضروري قواعد

اوله قاعده: د درې حرفي اسم تصغیر د **فُعَيْلٌ** په وزن باندې راځي، لکه: د رَجُلٌ نه رُجَيْلٌ او د عَبْدٌ نه عُبَيْدٌ راځي.

دویمه قاعده: د څلور حرفي اسم تصغیر د **فُعَيْعِلٌ** په وزن باندې راځي، لکه د جَعْفَرٌ نه جُعَيْفِرٌ.

دریمه قاعده: د پنځه حرفي اسم تصغیر د **فُعَيْعِيْلٌ** په وزن باندې؛ خو په دې شرط چې دده څلورم حرف به مده او یا لین وي، لکه: د قِرْطَاسٌ نه قُرَيْطِيْسٌ او که چیرې څلورم حرف مد او لین نه وي؛ نو د ده پنځم حرف به حذف کړی شي تصغیر به یې هم د **فُعَيْعِلٌ** په وزن راځي، لکه: د سَفَرْجَلٌ نه سُفَيْرِجٌ

اوله فایده: د مؤنث سماعي "ة" په تصغیر کې ظاهرېږي، لکه: د أَرْضٌ نه أُرَيْضَةٌ او د شَمْسٌ نه شُمَيْسَةٌ

دویمه فایده: د کوم اسم اخري حرف چې حذف شوی وي هغه په تصغیر کې واپس راځي، لکه د اِبْنٌ نه بُنَيٌّ، اِبْنٌ په اصل کې بَنَوٌ و.

اتم فصل

معرفه او نکره

اسم په اعتبار دعموم اوخصوص سره په دوه ډوله دی:

۱- **معرفه** ۲- **نکره**

معرفه: هغه اسم دی چې د خاص شي دپاره جوړ شوی (وضع وي.

د معرفې اقسام

معارف ټول په اوو (۷) ډوله دي:

۱- **ضمیر** هغه اسم ده چې د څه نوم په ځای کارول کېږي، لکه هُوَ، اَنتَ، اَنَا، نَحنُ.

۲- **عَلَم**: چې د یو خاص ښار یا د یوه معلوم انسان یا د خاص شي نوم وي، لکه: زَیدٌ، دِهلِيّ، زَمزَم.

۳- **اسم اشاره**: هغه اسم دی چې په دهٔ سره د یوه شي طرف ته اشاره وشي، لکه: هٰذَا، ذٰلِكَ.

۴- **اسم موصول** یعنې هغه اسم چې صله ورسره یوځای کړل شي د جملې جزء ترې جوړېږي، لکه: اَلَّذِيْ او اَلَّتِيْ.

۵- **معرّف باللام** یعنې هغه اسم چې په نکره باندې "الف لام" داخل کړی شي او معرفه جوړ شي، لکه: اَلرَّجُلُ رجل پخوا له الف لام نه نکره ؤ، د الف لام په واسطه معرفه شو.

۶- **مضاف**: هغه اسم دی چې په دې پنځو قسمونو کې د یوه حرف ته مضاف وي، مثالو نه يې په ترتيب سره دا دي: **غُلَامُهُ، فَرَسُكَ، كِتَابِيْ، غُلَامُ زَيْدٍ، سَاكِنُ الدِّهْلِيِّ، مَاءُ زَمْزَمَ، كِتَابُ هٰذَا، فَرَسُ ذٰلِكَ، غُلَامُ الَّذِيْ عِنْدَكَ، بِنْتُ الَّتِيْ ذَهَبَتْ، قَلَمُ الرَّجُلِ**[1]

۷- **معرفه په ندا**: يعنې هغه اسم چې د رابللو (ندا) له وجې معرفه وګرځي، لکه **يَارَجُلُ**؛ په دې کې **يَا** حرفِ ندا او **رَجُلُ** منادیٰ ده.

۸- **نکره**: هغه اسم دی چې د غیر معین یعنې د عام شي دپاره جوړ شوی (وضع) وي، لکه فَرَس چې دکوم خاص اس نوم نه دی، بلکې هر اس ته په عربي ژبه کې فَرَس ویل کیږي او کله چې **فَرَسُ زَيْدٍ** یا **فَرَسُ هٰذَا** وویل شي؛ نو خاص شو معرفه ترې جوړه شوه.

---

[1] په اول مثال کې اضافت ضمیر د غائب ته او په دویم مثال کې اضافت ضمیر د مخاطب او په دریم مثال کې اضافت ضمیر د متکلم ته راغلی دی، په غلام زید، ساکن الدهلی، ماء زمزم کې اضافت علم ته شوی، په کتاب هذا، فرس ذالک کې اضافت اسم اشارې ته شوی، په غلام الذی عندک او بنت التي ذهبت کې اضافت اسم موصول ته او په قلم الرجل کې اضافت معرفې ته شوی دی

نهم فصل

مذکر او مؤنث

په اعتبار د جنس سره د اسم دوه ډولونه دي: ۱- مذکر ۲- مؤنث.

مذکر: هغه اسم دی چې په ده کې علامه د تانیث نه لفظي وي نه تقدیري، لکه: رَجُلٌ او فَرَس.

مؤنث: هغه اسم دی چې په هغه کې علامه د تانیث لفظي یا تقدیري موجوده وي، په اعتبار د علامې (نښې) سره مؤنث په دوه قسمه دی: ۱- **قیاسي** ۲- **سماعي**

۱- **مؤنث قیاسي**: هغه ده چې په ده کې د تانیث علامه په لفظ کې موجوده وي، د تانیث لفظي علامات درې دي:

۱- "ة" برابره خبره ده که حقیقتاً وي، لکه: طَلحَةٌ یا حُکماً وي، لکه: عَقْرَبُ په دې کې څلورم حرف د تاء تانیث د نښې په ځای ولاړ دی.

۲- **الف مقصوره زائده**، لکه: حُبْلیٰ، صُغْریٰ، کُبْریٰ.

۳- **الف ممدوده**، لکه په: حَمْرَاءُ او بَیْضَاء کې.

۲- **مؤنث سماعي** هغه دی چې په ده کې علامه د تانیث مقدره وي، لکه: اَرْضٌ او شَمْسٌ چې په اصل کې اَرْضَةٌ او شَمْسَةٌ وو، ځکه چې د دوی تصغیر اُرَیْضَةٌ او شُمَیْسَةٌ راځي، او له تصغیر نه د دوی اصلي حالت ظاهرېږي، ځکه چې تصغیر شیان خپل اصل ته رد کوي، یعنې بنیادي

صيغه معلوموي؛ نو داسې مؤنث ته چې په ده کې "ة" په ظاهره کې موجوده نه وي او په اصل کې وي مؤنث سماعي ويل کېږي.

د مونث اقسام

په اعتبار د ذات سره د مؤنث دوه قسمه دي: ۱- حقيقي ۲- لفظي

۱- **مؤنث حقيقي** هغه ده چې ددې په مقابله کې ساه لرونکی (حيوان) مذکر وي، برابره خبره ده که علامه د تانيث په کې موجوده وي او که نه وي موجوده، لکه: إِمْرَأَةٌ چې ددې په مقابله کې رَجُلٌ، او أَتَانٌ (خره) چې ددې په مقابله کې حِمَارٌ (خر) ده

۲- **مؤنث لفظي** هغه دی چې دده په مقابله کې حيوان مذکر نه وي، لکه ظُلْمَةٌ، او عَيْنٌ چې ددې تصغير عُيَيْنَةٌ دی.

لسم فصل

واحد، تثنيه، جمع

د اسم په اعتبار د شمېر د افرادو سره درې قسمونه دي ۱- **واحد** ۲- **تثنيه** ۳- **جمع**.

واحد هغه اسم ده چې په يو فرد باندې دلالت کوي، لکه: رَجُلٌ (يو سړی) إِمْرَأَةٌ (يوه ښځه).

تثنيه هغه اسم ده چې په دوو (۲) دلالت کوي.

د تثنيې جوړولو طريقه کله چې له واحد نه تثنيه جوړوو؛ نو د واحد د صيغې په پای کې د نون مکسور او د "نون" نه مخکې "الف" او

له الف نه مخکې حرف ته به فتحه ورکړو، دا یې حالت رفعي شو او یا بـه د مفرد په پای کې "یا" او "نون" مکسوره راوړو له "یا" نه مخکـې حـرف ته به فتحه ورکړو، دا به یې حالت نصبي او جري شي؛ نـو تثنیـه بـه ورنـه جوړه شي، لکه: رَجُلَانِ او رَجُلَیْنِ.

جمع: هغه اسم ده چې له دوو نه په زیاتو افـرادو بانـدې دِ لالـت وکړي، د جمع صیغه د واحد په صیغه کې د څه تغیر کولو نه جـوړیږي. او دا زیاتوالی به یا لفظاً وي، لکه رِجَالٌ او مُسْلِمُوْنَ، یا به تقدیراً وي، لکـه فُلْكٌ په وزن د قُفْلٌ (یوه کشتی) او فُلْكٌ په وزن د أُسْدٌ (ډیرې کشتی).

فایده: د دنیا په هره ژبه کې تقریباً یواځې واحـد او جمـع وي، د عربي ژبې دا ځانګړتیا ده چې پـه دې کـې یـو، دوه او جمـع وي یعنـې د جمع اطلاق لږ تر لږه په درېو باندې کېږي.

د جمع قسمونه: په اعتبار د لفظ د جمع دوه قسـمه دي: ۱- **جمع مکسره** ۲- **جمع سالم**

جمع مکسره: هغه جمع ده چې په دې کې د واحد صیغه سـلامته نه وي پاتې، لکه: رِجَالٌ چې په دې کې د واحد صیغه رَجُلٌ سـلامته نـه ده پاتې، بلکې مینځ کې "الف" راتللو سره د حرفونو بناء او ترتیب مات شـوی ده، دې جمع ته جمع تکسیر هم ویل کېږي.

جمع سالم: هغه جمع ده چې په دې کې د واحـد صـیغه سـلامته وي، ددې دوه قسمه دي:

۱- **جمع مذکر سالم**: هغه جمع ده چې په دې کې "واو" مـا قبـل مضموم او "نون مفتوح" وي، چې په زیاتو نارینه افرادو دلالت کوي، لکـه:

مُسْلِمُوْنَ او "یا" ما قبل مکسور او "نون مفتوح" وي، لکه: مُسْلِمِیْنَ [1]

۲- **جمع مؤنث سالم** دا هغه جمع ده چې ددې په اخر کې "الف" او "تا" وي او له دوو نه په زیاتو ښځینه افرادو باندې دلالت کوي. لکه: مُسْلِمَاتٌ [2]

په اعتبار د معنا سره جمع په دوه قسمه ده: ۱- **جمع قلت** ۲- **جمع کثرت**

جمع قلت: هغه ده چې له دریو افرادو نیولې تر لسو پورې یې اطلاق کیږي، لکه: له ثَوْبٌ نه چې اَثْوَابٌ جوړیږي، ددې څلور وزنونه دي

۱-اَفْعُلٌ لکه: اَکْلُبٌ (د کَلْبٌ جمع)

۲- اَفْعَالٌ لکه: اَقْوَالٌ (د قَوْلٌ جمع)

۳- اَفْعِلَةٌ لکه: اَطْعِمَةٌ (د طَعَامٌ جمع)

۴- فِعْلَةٌ لکه: غِلْمَةٌ (د غُلَامٌ جمع)

او جمع سالم بغیر له "الف لام"نه په جمع قلت کې داخل ده، لکه: عَاقِلُوْنَ او عَاقِلَاتٌ.

---

(۱) د جمعي مذکر سالم د جوړولو طریقه: د واحد په اخر کې واو ساکن سره له نون مفتوحه په حالت رفعي کې او یا "یاء" ساکنه سره له نون مفتوحه په حالت نصبي او جري کې راوړل شي، لکه: عَاقِلٌ (هوښیار) نه عَاقِلُوْنَ حالت رفعي کې اوله عالِمٌ نه عالِمِیْنَ حالت نصبي او جري کې.

(۲) د جمعي مؤنث سالمې د جوړولو طریقه دا ده: په واحده مونثه کې چې کومه "ة" ده، هغه به حذف او په ځای به یې الف او تاء راوړل شي؛ نو له مُسْلِمَةٌ نه به مُسْلِمَاتٌ جوړه شي.

جمع کثرت: هغه ده چې په لسو او له لسو نه په زیاتو باندې یې اطلاق کېږي، ددې جمع وزنونه د جمع قلّت د یاد شوو اوزانو نه پرته دي، په دې کې لس مشهور اوزان لیکل کېږي:

وزن	واحد	جمع	وزن	واحد	جمع
۱-فِعَالٌ	عَبْدٌ	عِبَادٌ	۶-فُعَّالٌ	خَادِمٌ	خُدَّامٌ
۲-فُعَلَاءُ	عَالِمٌ	عُلَمَاءُ	۷- فَعْلٰی	مَرِيْضٌ	مَرْضٰی
۳-اَفْعِلَاءُ	نَبِيٌّ	اَنْبِيَاءُ	۸-فَعَلَةٌ	طَالِبٌ	طَلَبَةٌ
۴-فُعُلٌ	رَسُوْلٌ	رُسُلٌ	۹-فِعَلٌ	فِرْقَةٌ	فِرَقٌ
۵-فُعُوْلٌ	نَجْمٌ	نُجُوْمٌ	۱۰-فِعْلَانٌ	غُلَامٌ	غِلْمَانٌ

فایده: هغه اسم چې څلور او پینځه حرفونه لري د هغه جمعې کثرتې زیاتره د منتهی الجموع په وزن راځي او د منتهی الجموع مشهور اوزان درې دي:

۱- مَفَاعِلُ لکه: د مَسْجِدٌ نه مَسَاجِدُ

۲- مَفَاعِيْلُ لکه د مِفْتَاحٌ نه مَفَاتِيْحُ

۳- فَعَائِلُ لکه: د رِسَالَةٌ نه رَسَائِلُ

منتهی الجموع: هغه جمع ده چې جمعیت یې اخر ته رسیدلی وي او بیا دویم ځل نه جمع کېږي، لکه له مسجدٌ نه چې مساجدُ جوړېږي

د منتهی الجموع د جوړولو طریقه دا ده: چې اول او دویم حرف ته به

فتحه ورکړو او دریم خای به الف ساکن علامه د جمعې راوړو او لـه هغې نه وروسته حرف به مکسور وي لکه: له مَسْجِدٌ نه مَسَاجِدُ او لـه سِوَارٌ څخه اَسَاوِرُ جوړیږي، په دې کې دَ "الفِ جمع" نـه وروسته دوه حرفـه وي، لکه: مَسَاجِدُ، یا یو حرف مشدد وي، لکه: دَوَابُّ، یا درې حـروف وي او د مینځ حرف یې ساکن وي، لکه: مَفَاتِیْحُ

اوله فایده: ځینې داسې جمعې شته چې مفـرد لـه خپـل لفـظ څخه نه لري، لکه: اِمْرَأَةٌ جمع دنِسَاءٌ، او د ذُوْ جمع چې اُولُوا ده.

دویمه فایده: کله واحد د اسم جمـع معنـا ورکـوي، لکـه: قَوْمٌ، رَهْطٌ او رَکْبٌ، بیا دوی ته اسم جمع ویل کېږي

دریمه فایده: دځینو الفاظو جمع خلاف قیاس راځـي، لکـه: د اُمٌّ جمع اُمَّهَاتٌ، دفَمٌ جمع اَفْوَاهٌ، د مَاءٌ جمع مِیَاهٌ، دانْسَانٌ جمع اُنَاسٌ او د شَاةٌ جمع شِیَاهٌ راځي

یوولسم فصل

مُنْصَرِفْ او غیر مُنْصَرِفْ

د اسم معرب دوه قسمونه دي: ۱- منصرف ۲- غیر منصرف

منصرف: هغه اسم دی چې په ده کې د اسبابو د منع صرف نـه یـو سبب نه وي او په ده باندې باندې درې واړه حرکتونـه او تنـوین راځـي، لکه: زَیْدٌ

غیر منصرف: هغه اسم دی چې په ده کې، د اسبابو د منع صرف نـه

دوه سببه موجود وي يا يو دا سې سبب وي چې د دوو [1] سببونو قائم مقام وي او په ده باندې تنوين او کسره نه راځي.

اسباب د منع صرف نهه (۹) دي.

۱- عدل ۲- وصف ۳- تانيث

۴- معرفه ۵- عُجمه ۶- جمع

۷- ترکيب ۸- وزنِ فعل ۹- الف او نون زائدتان.

چې د دوی مجموعه په لاندې دوه شعرونو کې بيان شوې ده:

عَدْلٌ وَ وَصْفٌ وَتَأنِيثٌ وَمَعْرِفَةٌ وَعُجْمَةٌ ثُمَّ جَمْعٌ ثُمَّ تَرْكِيبٌ

وَالنُّوْنُ زَائِدَةٌ مِنْ قَبْلِهَا اَلِفٌ وَ وَزْنُ فِعْلٍ وَ هٰذَا الْقَوْلُ تَقْرِيْبٌ

د هر يو مثال دا دی

۱- په عُمَرُ کې دوه سببه دي: عدل او معرفه

۲- په ثُلَاثُ کې دوه سببه دي: و صف او عدل

۳- په طَلْحَةُ کې دوه سببه دي: تا نيث او معرفه

۴- په زَيْنَبُ کې دوه سببه دي: معرفه او تانيث

۵- په اِبْرَاهِيْمُ کې دوه سببه دي: عجمه او معرفه

۶- په مَسَاجِدُ کې يو سبب (منتهی الجموع) دی [2]

---

[1] يادونه: هغه سببونه چې يو وي او د دوو سببونو په ځای دربرې هغه درې دي: اول منتهی الجموع لکه: مساجد، دويم: الف مقصوره لکه: ضُربی او دريم: الف ممدوده لکه أضرِبَاءُ.

[2] په اصل کې په دې کې يو سبب دی چې قائم مقام د دو سببونو دی.

۷- په بَعْلَبَكّ کې دوه سببه دي: ترکیب او معرفه.

۸- په أَحْمَدُ کې دوه سببه دي: وزن فعل او معرفه.

۹- په سَكْرَانُ کې دوه سببه دي: الف او نون زائد تان او وصف.

اوله فایده: د نحویانو په اصطلاح کې د یو اسم د خپلې اصلي صیغې نه وستل او بلې صیغې ته خلاف القیاس نقل شي دې ته عدل ویل کېږي.

او عدل په دوه قسمه دی: ۱- **عدل تحقیقي** ۲- **عدل تقدیري**

۱- **عدل تحقیقي**: هغه ده چې دده واقعي څه اصل وي، لکه ثُلٰثُ چې ددې معنی ده "درې درې" له دې نه معلومه شوه چې ددې اصل ثَلَاثَةٌ وَ ثَلَاثَةٌ ده.

۲- **عدل تقدیري**: هغه ده چې دده واقعي څه اصل نه وي بلکې منل شوی او فرضي وي، لکه: عُمَر چې دا لفظ په عربو کې غیر منصرف مستعملېږي، لیکن په ده کې د غیر منصرف کېدو صرف یو سبب معرفه موندل کېږي، له دې وجې یې د استعمال لحاظ وکړی شو او اصل یې عَامِرٌ ومنل شو.

دویمه فایده: عجمه هغه اسم دی چې د عربي نه پرته په بله ژبه کې عَلَم وي او له دریو حرفونو نه زائد وي، لکه: إِبْرَاهِيمُ یا درې حرفي وي او د مینځ حرف یې متحرک وي، لکه: شَتَرُ د یوې کلا (قلعې) نوم

دی.

دریمه فایده: "الف او نون زائد تان" که چېرته د اسم په اخر کې وو؛ نو شرط یې دا دی چې هغه اسم بـه عَلَـم وي، لکـه: عُثْمَانُ وَ عِمْرَانُ وَ سَلْمَانُ لهذا سَعْدَانٌ غیر منصرف نه دی، بلکې منصرف دی ځکـه چـې هغـه عَلَم نه دی بلکې ځنګلي وابښو ته ویل کېږي.

او که چېرته "الف او نون زائد تان" د صفت په اخر کې وو؛ نـو شرط یې دا دی چې د ده مؤنـث بـه د فَعْلَانَةٌ پـه وزن نـه وي، لکـه: سَكْرَانُ چې منصرف دی، ځکه چې دده مؤنث سَكْرَانَةٌ نه راځي او نَدْمَانٌ منصرف دی ځکه چې دده مؤنث نَدْمَانَةٌ راځي.

څلورمه فایده: د وزنِ فعل نه مطلب دا دی چې اسم به د فعل په وزن وي، لکه: اَحْمَدُ چې د اَفْعَلُ په وزن دی.

پنځمه فایده: په کوم غیر منصرف باندې چې"الف لام" راشـي یا بل اسم ته مضاف وي؛ نو ده ته به په حالت جري کې کسـره ورکـول کېږي، یعنې بیا غیر منصرف هم منصرف او یا د منصـرف پـه حکـم کـې ګرځي، لکه: صَلَّيْتُ فِيْ مَسَاجِدِهِمْ، وَ ذَهَبْتُ اِلَى الْمَقَابِرِ، پـه اول مثال کې اضافت اوپه دویم مثال کې الف ولامورباندې داخل شـوي دي.

دولسم فصل

مرفوعات

مرفوعات اته (۸) دي

۱- **فاعل** ۲- **مفعول مَالَمْ يُسَمَّ فَاعِلُه**

۳- **مبتدا** ۴- **خبر**

۵- **اِنَّ او دده د اخواتو خبر** ۶- **اسم د ماولا مشابه د لَيْس سره**

۷- **اسم د كانَ او د ده د اخواتو** ۸- **خبر د لاء د نفي جنس**

۱- **فاعل** هغه اسم دى چې د ده طرف ته د فعل نسبت په داسې ډول وشي چې هغه فعل به په ده پورې قائم وي او يا به فعل له ده نه صادر وي. لكه قَامَ زَيْدٌ، ضَرَبَ عَمْرٌو.

فاعل په دوه قسمه ده ۱- ظاهر ۲- مضمر

اول ظاهر لكه قَامَ زَيْدٌ كې زَيْدٌ فاعل او اسم ظاهر ده.

دويم مضمر لكه په ضَرَبْتُ كې تُ ضمير د فاعل ده.

ضمير هم په دوه قسمه ده

ضمير بارز (ظاهر) لكه:

ضَرَبْتَ	ضَرَبْتُمَا	ضَرَبْتُم	ضَرَبْتِ	ضَرَبْتُمَا	ضَرَبْتُنَّ
ضَرَبْتُ	ضَرَبْنَا	ضَرَبَا	ضَرَبُوْا	ضَرَبَتَا	ضَرَبْنَ

ضمير مستتر (پټ) لكه په ضَرَبَ كې هُوَ او په ضَرَبَتْ كې هِيَ، دغسې په يَضْرِبُ واحد مذكر غائب كې هُوَ، په تَضْرِبُ واحد مونث غائب كې هِيَ، په تَضْرِبُ واحد مذكر حاضر كې أَنْتَ او په أَضْرِبُ واحد متكلم كې أَنَا، په نَضْرِبُ تثنيه او جمع متكلم كې نَحْنُ مستتر دى، يعني په ستركو نه ليدل كېږي.

او د تثنيې په څلورو صيغو يَضْرِبَانِ، تَضْرِبَانِ تَضْرِبَانِ تَضْرِبَانِ کې "الف"، په يَضْرِبُوْنَ، تَضْرِبُوْنَ کې "واو"، په يَضْرِبْنَ او تَضْرِبْنَ کې "نون" او په تَضْرِبِيْنَ کې "يا" بارز ضميرونه دي.

اوله فايده: کله چې د فعل فاعل ظاهر وي او يا مؤنث حقيقي وي، د فعل او فاعل په مينځ کې څه فاصله نه وي، يا فاعل د مؤنث ضمير وي؛ نو په دې دواړو صورتونو کې فعل مؤنث راوړل ضروري دي، لکه: قَامَتْ هِنْدٌ او هِنْدٌ قَامَتْ.

ترکيب: د هِنْدٌ قَامَتْ داسې کبرې: هِنْدٌ مبتدا، قَامَتْ فعل، په دې کې ضمير د هِيَ مستتر دی هغه يې فاعل، فعل سره له خپل فاعل دا جمله فعليه خبر يه خبر شو د مبتدا لپاره، متبدا سره له خبره دا جمله اسميه خبر يه شوه.

او کله چې فاعل اسم ظاهر مؤنثِ حقيقي وي، د فعل او فاعل په مينځ کې فاصله وي، يا فاعل ظاهر مؤنثِ غير حقيقي وي، يا فاعل ظاهر جمع مکسره وي؛ نو په دې درې واړو صورتونو کې فعل مؤنث هم راتلی شي او مذکر هم، لکه: قَرَأَ الْيَوْمَ هِنْدٌ و قَرَأَتِ الْيَوْمَ هِنْدٌ، طَلَعَ الشَّمْسُ وَ طَلَعَتِ الشَّمْسُ، قَالَ الرِّجَالُ وَ قَالَتِ الرِّجَالُ.

فايده: کله چې د فعل فاعل ظاهر وي؛ نو فعل به همېشه د واحد صيغې سره راوړل کېږي، لکه: ضَرَبَ الرَّجُلُ، ضَرَبَ الرَّجُلَانِ او ضَرَبَ الرِّجَالُ.

او کله چې فاعل اسم ظاهر نه وي؛ نو د فاعلِ واحد دپاره فعل واحد، او د فاعل تثنيې دپاره فعلِ تثنيه، او د فاعل جمعې دپاره فعل جمع راوړل کېږي، لکه: اَلْخَادِمُ ذَهَبَ، اَلْخَادِمَانِ ذَهَبَا او اَلْخَادِمُوْنَ ذَهَبُوْا.
البته! کله چې فاعل د جمع مکسرې ضمير وي؛ نو فعل واحد مؤنث او جمع مذکر دواړه قسمه راوړلی شي، لکه: اَلرِّجَالُ قَامُوْا، اَلرِّجَالُ قَامَتْ.

۲- **مفعول مالم يسم فاعله**: هغه مفعول دی. چې دده طرف ته د فعلِ مجهول نسبت شوی وي او فاعل يې حذف شوی وي او په ځای دده مفعول ولاړ وي، لکه: ضُرِبَ زَيْدٌ.

او د فعل په تذکير او تانيث، واحد، تثنيې او جمعې راوړلو کې په مثل د فاعل دي، لکه: ضُرِبَتْ هِنْدٌ وَ هِنْدٌ ضُرِبَتْ او ضُرِبَ الْيَوْمَ هِنْدٌ وَ ضُرِبَتِ الْيَوْمَ هِنْدٌ او رُاِيَ الشَّمْسُ وَ رُاِيَتِ الشَّمْسُ او ضُرِبَ الرِّجَالُ وَ ضُرِبَتِ الرِّجَالُ او ضُرِبَ الرَّجُلُ، ضُرِبَ الرَّجُلَانِ، ضُرِبَ الرِّجَالُ او اَلْخَادِمُ طُلِبَ، اَلْخَادِمَانِ طُلِبَا، اَلْخَادِمُوْنَ طُلِبُوْا، اَلرِّجَالُ ضُرِبُوْا، اَلرِّجَالُ ضُرِبَتْ.

فعلِ مجهول ته فعل مالم يسم فاعله ويل کېږي، يعنې داسې فعل چې دده د فاعل نوم معلوم نه وي.

۳- **مبتدا** ۴- **خبر**: دا دواړه اسمونه د عامل لفظي نه خالي وي، مبتدا ته مسنداليه او خبر ته مسند ويل کېږي، په دوی کې عامل معنوي وي، لکه: زَيْدٌ عَالِمٌ.

يادونه: مبتدا اکثر معرفه وي او کله نکره هم واقع کېږي، په دې شرط چې په دې کې په يو صفت سره څه تخصيص وشي، لکه: څنګه چې به دا خبره له نورو کتابونو معلومه شي او خبر اکثر نکره وي مثالونه يې دا دي: زَيْدٌ اَبُوْهُ عَالِمٌ، ((اَللّٰهُ يَعْصِمُكَ))، اَلْعَالِمُ اِنْ جَاءَ كُمْ فَاَكْرِمُوْهُ او اَللّٰهُ مَعَكُمْ.

يادونه: کله کله خبر په مبتدا باندې مقدم وي، لکه: فِي الدَّارِ زَيْدٌ.

۵- **د اِنَّ او نورو خبر**:

زده کړه دا خبره چې حروف مشبه بالفعل شپږ دي.

اِنَّ او اَنَّ، كَاَنَّ، لَيْتَ، لٰكِنَّ، لَعَلَّ،

اسم ته نصب او رفعه ورکوونکي دي خبر لره همېشه

لکه: اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ ((اِعْلَمُوْا اَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ)) جَاءَ زَيْدٌ لٰكِنَّ بَكْرًا غَائِبٌ، لَعَلَّ الْاَمِيْرَ يُكْرِمُنِيْ، لَيْتَ الشَّبَابَ عَائِدٌ، كَاَنَّ عَمْرًوا اَسَدٌ.

۶- **د ما او لا اسم**:

د مَا او لَا عمل خلاف د اِنَّ و اَنَّ دی

د اسم رافع دي او ناصب د خبر دي دائما

لکه: مَازَیْدٌقَایِمًا، لَارَجُلٌ اَفْضَلَ مِنْكَ.

۷- دِکَانَ او نورو اسم:

کَانَ، صَارَ، اَصْبَحَ، اَمْسٰی وَ اَضْحٰی، ظَلَّ، بَاتَ

مَابَرِحَ، مَادَامَ، مَاانْفَكَّ، لَیْسَ ده او مَافتی

همدارنګه د همَا زَالَ او بیاهغه اَفعال چې د دوی نه وتلي (مشتق) وي هم هغه عمل کوي کوم چې ددې دیارلسو ولیکل شو

لکه: کَانَ زَیْدٌقَایِمًا. صَارَ الْفَقِیْرُ غَنِیًّا.

۸- خبر د لاء نفي جنس لکه: لَارَجُلَ قَایِمٌ.

دیارلسم فصل

منصوبات

منصوبات ۱۲- دي:

۱- مفعول به ۲- مفعول مُطلق ۳- مفعول لَه

۴- مفعول معه ۵- مفعول فیه ۶- حال

۷- تمیز ۸- دِ حروف مشبه بالفعل اسم ۹- د ما و لا خبر

۱۰- اسم د لاء نفي جنس ۱۱- د کَانَ خبر ۱۲- مستثنی

۱- مفعول به: هغه اسم دی چې په ده باندې د فاعل فعل واقع وي، لکه: اَکَلَ زَیْدٌطَعَامًا، شَرِبَ خَالِدٌمَاءً.

ترکیب: اَکَلَ فعل، زَیْدٌ فاعل، طَعَامًا مفعول به، فعل سره له خپل فاعل او مفعول به دا جمله فعلیه خبر یه شوه.

فایده: په ځینو ځایونو کې د مفعول به فعل د څه قرینې د وجې حذف کېدلی هم شي، لکه کوربه (مېز بان) د خپل مېلمه په راتګ

باندې د مبلمه د خوشالولو او اطمینان ورکولو دپاره أَهْلًا وَ سَهْلًا
ووايي يعنې أَتَيْتَ أَهْلًا وَ وَطِيْتَ سَهْلًا (ته خپلو خلکو ته راغلی یې نه
پردیو ته او ته نرم او ښکلي ځای ته راغلی یې په تا باندې څه مشقت او
تکلیف نشته) دلته أَتَيْتَ او وَطِيْتَ محذوف دي.

او لکه د ډارولو په موقع باندې ویل کېږي: إِيَّاكَ وَ الْأَسَدَ
يعنې إِتَّقِ نَفْسَكَ مِنَ الْأَسَدِ (ته خپل ځان له زمري نه وساته!) دلته إِتَّقِ
فعل محذوف دی او د چا د رابللو په وخت هم فعل حذف کېږي، لکه:
يَا غُلَامَ زَيْدٍ، يعنې أَدْعُوْا غُلَامَ زَيْدٍ (زه رابلم د زید غلام) دلته أَدْعُوْا
محذوف، "یا" حرف ندا ده او غلام زید منادی ده.

یادونه: منادی که چېرته مضاف وي؛ نو منصوب به وي، لکه: يَا
غُلَامَ زَيْدٍ، یا مشابه د مضاف وي، لکه: يَا قَارِئًا كِتَابًا (ای ویونکیه! د کتاب)
یا نکره غیر معینه وي، لکه: يَا رَجُلًا خُذْ بِيَدِيْ او منادی مفرد معرفه به په
علامې د رفع باندې مبني وي، لکه: يَا زَيْدُ.
که چېرته منادی معرف باللام وه؛ نو د حرف ندا او منادی په مینځ کې په أَيُّهَا
سره فصل کول لا زمي دي لکه: يَا أَيُّهَا الرَّجُلُ.

په منادی کې ترخیم هم جائز دی یعنې د تخفیف په غرض د منادی
اخرنی حرف حذف کړی شي،(۱) لکه: په يَا مَالِكُ کې يَا مَالُ او په يَا مَنْصُوْرُ

---

(۱) یعنې د کلمې د اخر نه یو یا د یو نه زیات حرفونه حذف کړی شي.

کې يَامَنْصُ.

په منادی مرخمې کې اصلي حرکت او ضمه دواړه جائز دي، لـه دې وجې نه يَامَالِ هم ويلی شي او يَامَالُ هم.

۲- **مفعول مطلق**: هغه مصدر ده چې د فعل نه وروسته واقـع شـوی وي او ددغه فعل لپاره تاکيد وي، کله کله له فعل سره په لفـظ او معنـا دواړو کې برابر وي، لکه: ضَرْبًا په ضَرَبْتُ ضَرْبًا کې او قِيَامًا په قُمْتُ قِيَامًا کې او کله بيا په معنا کې ورسره برابر وي؛ خو په لفظ کې څه بدلون سـره لـري لکه: قَعَدتُّ جلوسًا.

د مفعول مطلق فعل د کومې قرينې له وجې حذف کېدلی هم شي، لکه راتلونکي سړي ته چې ووايې: خَيْرَ مَقْدَمٍ يعنې قَدِمْتَ قُدُوْمًا خَيْرَ مَقْدَمٍ (ته راغلې په ښه راتګ سره).

۳- **مفعول له**: هغه اسم ده چې دده په سـبب سـره فعـل واقـع شوی وي، لکه: قُمْتُ اِکْرَامًا لِزَيْدٍ وَضَرَبْتُه تَادِيْبًا.

ترکيب: قُمْتُ فعل او فاعل اِکْرَامًا مفعول له لام جـاره زيـدٍ يې مجرور، جار سره له مجروره تعلق نيسي تر قُمْتُ پورې، فعل سره له فاعله او سره له مفعول له دا معطوف عليه، واو حرف عطف، ضَرَبْتُ فعل او فاعل، "ه" ضمير مفعول به تَادِيبًا مفعول له، فعل سره له فاعـل سره له مفعول بـه او سـره لـه دواړو مفعولـو دا معطـوف شـو دپـاره د معطوف عليه، معطوف سـره لـه معطـوف عليـه دا جملـه فعليـه خبريـه

معطوفه شوه.

۴- **مفعول معه**: هغه اسم ده چې له "واو" نه وروسته واقع وي، او هغه "واو" د مع په معنی وي، لکه: جَاءَ زَيْدٌ وَ الْكِتَابَ (راغی زيد سره له کتاب) جِئْتُ وَ زَيْدًا (راغلم زه سره له زيد نه).

ترکيب: جَاءَ فعل، زَيْدٌ فاعل، "واو" حرف په معنا د مَعَ، الْكِتَابَ مفعول معه، فعل سره له خپل فاعل او مفعول معه دا جمله فعليه خبريه شوه.

۵- **مفعول فيه**: هغه اسم دی چې د کار د کولو په ځای او وخت دلالت کوي، دې ته ظرف هم ويل کېږي.

ظرف په دوه قسمه دی: ۱- ظرفِ زمان ۲- ظرفِ مکان.

ظرف زمان: هغه ده چې د کار کولو وخت رابنيي لکه: ضَرَبْتُ زَيْداً يَوْمَ الْجُمُعَةِ.

ظرف مکان: هغه ده چې د کار کولو ځای رابنيي لکه: ضَرَبْتُ زيداً في الغرفة.

ظرفِ زمان په دوه ډوله دی: ۱- مُبهم ۲- محدود.

ظرفِ زمان مبهم: هغه دی چې دده حد معين نه وي، لکه: دَهْرٌ، حِيْنٌ.

ظرفِ زمان محدود: هغه دی چې دده حد معين وي، لکه: يَوْمٌ، لَيْلٌ، شَهْرٌ او سَنَةٌ.

د زمان مبهم مثال، لکه: صُمْتُ دَهْرًا. د زمان محدود مثال، لکه: سَافَرْتُ شَهْرًا.

ظرف مکان هم په دوه ډوله دی: ۱- مبهم ۲- محدود.

ظرف مکان مبهم هغه دی چې ټاکلی ځای نه رابني لکه: جَلَسْتُ خَلْفَكَ وَ قُمْتُ أَمَامَكَ، ځکه چې خَلْفَ او أَمَامَ کوم معین حد نه دی، د زمکې تر اخرې برخې پورې مراد اخیستلی شي.

ظرف مکان محدود: هغه دی چې معلوم ځای رابني لکه: جَلَسْتُ فِي الدَّارِ وَ صَلَّيْتُ فِي الْمَسْجِدِ.

فایده: په ظرفِ مکان مبهم کې فِي مقدر کېږي او په ظرف مکان محدود کې فِي مذکور وي، یو شاعر دغه پنځه مفعوله په یو شعر کې جمع کړي:

حَمِدْتُ حَمْدًا حامداً وَ حَمِيْدًا   رِعَايَةَ شُكْرِهٖ دَهْرًا مَدِيْدًا

ژباړه: "ما د حامد تعریف د حمید سره وکړو، د ده د شکر لحاظ مې وکړو تر اوږدې زمانې پورې"

ترکیب: حَمِدْتُ فعل او فاعل، حَمْدًا مفعول مطلق، حَامِدًا مفعول به، "واو" حرف په معنی د مع، حَمِيْدًا مفعول معه، رِعَايَةَ مضاف، شُكْرِ مضاف الیه مضاف، "ه" ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د

مضاف اليه دا بيا مضاف اليه شو د رِعَايَةً مضاف لپاره، مضاف سره د مضاف اليه دا مفعول له شو، دَهْرًا موصوف، مَدِيْدًا صفت، موصوف سره له صفته دا مفعول فيه، فعل سره له فاعل، سره له ټولو مفعولونو دا جمله فعليه خبر يه شوه.

۶- **حال**: هغه اسم ده چې د فاعل هيئت بيان کړي، يعنې دا ظاهر کړي چې د فاعل نه کله دا فعل صادر شو؛ نو هغه په کوم صورت و؟ ولاړ و، ناست و، سپور و يا پياده و؟ لکه: جَاءَ زَيْدٌ رَاكِبًا (زيد راغی په داسې حال کې چې دی سپور و) يا د فاعل او مفعول دواړو حالت ظاهر کړي، لکه: كَلَّمْتُ زَيْدًا جَالِسَيْنِ، (ما د زيد سره خبرې وکړې په داسې حال کې چې دواړه ناست وو) يا د مفعول حالت او صورت بيان کړي لکه: جِئْتُ عَمْرًا نَائِمًا. (زه را غلم د عمرو خوا ته په داسې حال کې چې هغه ويده وو).

يادونه: زده کړه دا خبره چې فاعل او مفعول ته ذوالحال ويل کېږي او هغه اکثره معرفه وي او که چېرته ذوالحال نکره وي؛ نو حال پرې مقدم کېږي، لکه: جَاءَنِيْ رَاكِبًا رَجُلٌ.

او حال جمله هم کېدلی شي، لکه جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَهُوَ رَاكِبٌ او يا لکه: لَقِيْتُ بَكْرًا وَهُوَ جَالِسٌ او کله ذوالحال مقدر (پټ) هم وي، لکه: زَيْدًا اَكَلَ جَالِسًا کې؛ نو په دې جمله کې جالساً حال دی له هغه ضمير نه چې په اَكَلَ کې پټ دی، (هُوَ) هغه ذوالحال دی او جالساً ورنه حال دی.

۱- ترکیب: جَاءَ زَيْدٌ رَاكِبًا: جَاءَ فعل، زَيْدٌ ذوالحال، رَاكِبًا حال، حال سره د ذوالحاله دا فاعل شو لپاره د جَاءَ، فعل سره له فاعل دا جمله فعليه خبريه شوه.

۲- ترکیب: جِئْتُ عَمْرًا[1] نَائِمًا: جِئْتُ فعل او فاعل، عَمْرًا ذوالحال، نَائِمًا حال، حال سره دَ ذوالحال دا مفعول به شو لپاره د جِئْتُ، فعل سره له فاعل او سره له مفعول به دا جمله فعليه خبريه شوه.

۳- ترکیب: لَقِيْتُ بَكْرًا وَ هُوَ جَالِسٌ: لَقِيْتُ فعل او فاعل، بَكْرًا ذوالحال، "واو" حاليه، هُوَ مبتدا، جَالِسٌ خبر، مبتدا سره له

---

(۱) په کلمه د عمرو کې "واو" زياتيږي او دا زياتوالی لپاره د فرق کولو دی په مينځ د "عَمْرو" او "عُمَرَ" کې چې غير منصرف دی او دا زيادت د "واو" په "عَمْرو" کې په حال د رفع او جر کې دی او په حالت د نصب کې "عَمْرو" په الف سره او عُمَرَ بې له الفه ليکل کيږي؛ نو فرق به يې ښکاره شي، مثالونه يې هذا عمرو. هذا عمرَ. رايت عمراً رايت عمرَ. مررت بعمروٍ. مررت بعمرَ. او زيادت د "واو" ځکه کيږي چې په دې کې التباس نه راځي او که "يا" يې زياته کړې وای؛ نو التباس به راغلی و د هغه اسم سره چې مضاف وي "يا" د متکلم ته او که الف يې زيات کړی وی؛ نو التباس به راغلی و د مرفوع له منصوب سره، علامه سيوطي رحمه الله ذکر کړي دي چې "واو" يې په "عَمْرو" کې اضافه کړ ځکه چې دی اخف دی له "عُمَر" څخه، له وجې د بنا د "عَمْرو" په فَعْلِ وزن سره او له وجې د انصراف د "عَمْرو" او په "عَمْرو" کې د "واو" دَ زياتوالي دپاره لاندې شرطونه دي: (۱) علم به وي، (۲) غير مضاف به وي، (۳) غير مصغر به وي(۴) په الف لام پورې به پيوست نه وي (۵) د کوم بيت قافيه به نه وي(۶) منصوب منوّن به نه وي.

شيخ فيض الرحمن حقاني، علامات الترقيم و اصول الاملاء ص. ۹۷

خبره دا جمله اسمیه خبر یه حال شو لپاره د بکراً، حال سره له ذوالحال دا مفعول به شو د لَقِيْتُ لپاره. فعل سره له فاعل او مفعول به دا جمله فعلیه خبر یه شوه.

۴- **ترکیب**: زَيْدٌ اَكَلَ جَالِسًا: زَيْدٌ مبتدا، اَكَلَ فعل په دې کې ضمیر مستتر (پټ) دی چې هغه (هُوَ) ده هغه یې ذوالحال، جَالِسًا حال، حال سره د ذوالحاله دا فاعل شو دا اَكَلَ لپاره، فعل سره له فاعله دا جمله فعلیه خبر یه خبر شو د مبتدا، مبتدا سره له خبره دا جمله اسمیه خبریه شوه.

۷- **تمیز**: هغه اسم ده چې د عدد پټوالي (ابهام) لرې کړي، لکه: رَاَيْتُ اَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا، یا د وزن، لکه: اِشْتَرَيْتُ رِطْلًا زَيْتًا (اخستي ؤ ما یو رطل د زیتون تیل) یا د پیمانې، لکه: بِعْتُ قَفِيْزَيْنِ بُرًّا (خرخ کړي ؤ ما دوه پیمانې غنم)

۱- **ترکیب**: رَاَيْتُ فعل او فاعل، اَحَدَ عَشَرَ مُمَيز، كَوْكَبًا یې تمیز، ممیز سره له تمیزه دا مفعول به شو لپاره د فعل، فعل سره له فاعله سره له مفعوله دا جمله فعلیه خبریه شوه.

۲- **ترکیب**: اِشْتَرَيْتُ فعل او فاعل، رِطْلًا ممیز، زَيْتًا یې تمیز، ممیز سره له تمیزه دا به مفعول به شي د فعل لپاره، فعل سره له فاعله، سره له مفعول به دا جمله فعلیه خبریه شوه.

۳- **ترکیب**: بعثُ فعل او فاعل، قَفِیْزَیْنِ مُمَیز، بُرًّا تمیز، ممّیز سره له تمیزه دا به مفعول به شي د بِعْتُ لپاره، فعل سره له فاعله سره له مفعوله دا جمله فعلیه خبریه شوه.

۸- **اِنَّ او دده د اخواتو اسم**، لکه: اِنَّ زَیْدًا قَائِمٌ.

۹- **د ما و لا المشبهتین بـ لَیْسَ خبر**، لکه: لَا رَجُلٌ ظَرِیْفًا.

۱۰- **د لا د نفي جنس اسم**، لکه: لَا رَجُلَ ظَرِیْفٌ.

۱۱- **کان او ددې د اخواتو خبر**، لکه: کَانَ زَیْدٌ قَائِمًا.

۱۲- **مستثنی او د هغې پېژندنه**: مستثنٰی هغه اسم دی چې د حروف استثنا نه وروسته واقع وي چې له دې څخه دا معلومه شي چې د کوم شي نسبت ماقبل طرف ته شوی ده مستثنی له هغه نسبت نه خارج ده، لکه: جاءني القوم اَلّا زیداً.

د استثناء حروف اته (۸) دي:

۱- اِلَّا ۲- غَیْرَ ۳- سِوٰی ۴- حَاشَا

۵- خَلَا ۶- عَدَا ۷- مَاخَلَا ۸- مَاعَدَا

له دغو حروفو نه مخکې چې کوم اسم واقع شوی وي هغه ته مستثنٰی منه ویل کېږي، لکه: جَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا زَیْدًا (راغلی وو ما ته قوم خو زید نه و راغلی).

په دې مثال کې د راتګ نسبت قوم طرف ته کېږي؛ خو اِلَّا زید له دې نسبت نه خارج کړو؛ نو قوم مستثنٰی منه شو او زید مستثنٰی.

مستثنی په دوه ډوله ده: ۱- متصل ۲- منفصل.

مشتثنیٰ متصل: هغه ده چې د استثناء نه مخکې مستثنی په مستثنی منه کې داخل وي، بيا حرف استثنا راوړل شي خارج يې کړي، لکه: جَآءَ الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا؛ نو زيد له استثناء نه مخکې په قوم کې داخل و، ليکن د راتګ د حکم نه په ذريعه د حرف استثناء زيد خارج شو.

مستثنی منقطع: هغه ده چې مستثنی، نه د استثناء نه مخکې په مستثنی منه کې داخل وي او نه وروسته له استثناء، لکه: سَجَدَ الْمَلٰئِكَةُ اِلَّا اِبْلِيْسَ (فرښتو سجده وکړه؛ خو شيطان ونه کړه) نو ابليس نه له استثناء څخه مخکې په فرښتو کې داخل و، نه وروسته، (بلکې جن و) دا مستثنی منقطع شوه.

ترکيب: جاءالقوم الا زيدا: جاء فعل، القومُ مستثنی منه، الا حرف استثناء، زيدا مستثنی، مستثنی سره له مستثنی منه، فاعل شو د جاء لپاره، فعل سره له فاعله دا جمله فعليه خبريه شوه.

زده کړه دا خبره!: چې مستثنی د ذکر او عدم ذکر په اعتبار سره په دوه قسمه ده: ۱- مفرغ ۲- غير مفرغ.

مفرغ: هغه ده چې ددې مستثنی منه مذکور نه وي، لکه: جَآءَنِيْ اِلَّا زَيْدًا.

غير مفرغ: هغه ده چې په دې کې مستثنی منه مذکور وي، لکه: جَآءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا.

په کوم کلام کې چې استثناء موجوده وي د هغـه هـم دوه قسـمه دي: ۱- مُوجَب ۲- غیر موجَب.

مُوجَب: هغه ده چې په ده کې، نفي، نهي او استفهام نه وي.

غیر موجَب: هغه ده چې نفي، نهي او استفهام په کې موجود وي.

اقسام د اعراب د مستثنی

نمبر	قاعده	مثال
۱	که چېرته مستثنٰی متصـل د الا نــه وروســته پــه کــلام موجَب(مثبــت) کــې واقــع وي نـو مستثنی بـه همېشـه منصوبه وي.	جَاءَنِيْ الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا.
۲	که چېرته مستثنی پـه کـلام غیر موجَب کې واقـع وه او په مستثنٰی منه بانـدې مقـدم شوې وه؛ نو بیا هم منصوب ویل کېږي.	مَا جَاءَنِيْ اِلَّا زَيْدًا اَحَدٌ.
۳	مســتثنٰی منقطــع همېشــه منصوب کېږي.	سَجَدَ الْمَلٰئِكَةُ اِلَّا اِبْلِيْسَ.
۴	وروسته له خـلا او عـدا نـه مستثنٰی د اکثرو علماؤ په نزد منصوب ویل کېږي.	جَاءَنِيْ الْقَوْمُ خَلَا زَيْدًا.
۵	د ما عدا نه وروسته مسـتثنٰی همېشه منصوبه وي.	جَاءَنِيْ الْقَوْمُ مَا عَدَا زَيْدًا.

۶ الف	كومه مستثنٰی چې وروسته له اِلّاَ په كلامِ غير موجَب كې واقع وي او ددې مستثنٰی منه هم مذكور وي؛ نو په دې كې دوه صورتونه جائز دي، يو دا چې په طور د استثناء منصوب كېږي.	مَا جَاءَنِيْ اَحَدٌ اِلَّا زَيْدًا.
۶ ب	دويم دا چې د خپل ماقبل نه بدل شي، يعني كوم اعراب چې مخكې له الاحرف استثناء څخه وربانديې و هغه اعراب به له الا حرف استثناء څخه وروسته هم وربانديې راشي.	مَا جَاءَنِيْ اَحَدٌ اِلَّا زَيْدٌ.
۷	كه چېرته مستثنٰی مفرغه وه او په كلام غير موجب كې واقع وي، نو د مستثنٰی اعراب به د عامل مطابق وي.	مَا جَاءَنِيْ اِلَّا زَيْدٌ. مَا رَاَيْتُ اِلَّا زَيْدًا. مَا مَرَرْتُ اِلَّا بِزَيْدٍ.
۸	مستثنٰی كه وروسته د لفظ د غَيْرُ، سِوٰی، سِوَاءَ، حَاشَا څخه واقع وي؛ نو مستثنٰی مجرور ويل كېږي.	جَاءَنِي الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ وَسِوٰي زَيْدٍ، وَسِوَاءَ زَيْدٍ وَ حَاشَا زَيْدٍ.

اعراب د لفظ د غَيْرُ: دا خو اوس معلوم شو چې د غَيْرُ نه وروسته مستثنٰی مجرور وي .

اوس دا دربنيې چې د لفظ د غَيْرُ اِعراب په تولو مذکوره صورتونو کې داسې کيږي، لکه د الا د مستثنیٰ په شان لکه چې د لاندې نقشې څخه به معلومه شي:

دقاعدې بيان	مثال
دا د مستثنیٰ متصل مثال ده.	جَاءَنِي الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ.
دا د مستثنیٰ منقطع مثال ده.	سَجَدَ الْمَلٰئِكَةُ غَيْرَ اِبْلِيْسَ.
کلامِ غير موجب او مستثنیٰ مقدمه ده.	مَا جَاءَنِي غَيْرَ زَيْدٍ نِ الْقَوْمُ.
کلامِ غير موجب ده مستثنیٰ منه مذکور ده، په دې کې دوه صورتونه دي: استثناء او بدل.	مَا جَاءَنِي اَحَدٌ غَيْرَ زَيْدٍ وَ غَيْرُ زَيْدٍ.
په دې درې مثالو کې د غَيْرُ اعراب د عامل مطابق دی.	مَا جَاءَنِي غَيْرُ زَيْدٍ مَا رَاَيْتُ غَيْرَ زَيْدٍ مَا مَرَرْتُ بِغَيْرِ زَيْدٍ

فايده: دلفظ غَيْرُ اصل وضع خو د صفت دپاره ده، مګر کله کله د استثناء دپاره هم راځي، دغه شان اِلّا د استثناء دپاره موضوع ده او کله کله د صفت دپاره هم راځي، لکه چې الله تعالیٰ فرمايلي دي: ((لَوْ كَانَ فِيْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا)) دغه شان "لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ" (اَيْ غَيْرُ اللّٰهِ).

څوارلسم فصل

مجرورات

هغه اسم چې مجرور وي هغه به په دوو طريقو سره مجرور شوی وي: يو د اضافت په طريقه سره لکه: غُلَامُ زَيْدٍ کې (زَيْدٍ) د اضافت په وجه مجرور دی.

دويم هغه چې حرف جر ورباندې داخل وي لکه: بِـ زَيْدٍ.

١- **فايده**: په مضاف باندې "الف لام" او تنوين نه راځي او د تثنيې او جمعې "نون" په اضافت سره غورځېږي، ځکه چې د مضاف او مضاف اليه تر مينځ شدت اتصال وي، که نون د تثنيې، جمعې او يا تنوين راشي نو بيا به د دوی تر مينځ انفصال راشي او دا ناروا دي. لکه غلامٌ کله چې يې اضافت وشي؛ نو تنوين به ساقطيږي مثال يې غُلَامُ زَيْدٍ دی، د فَرَسَانِ لفظ چې د تثنيې صيغه ده کله يې چې اضافت وشي نون به ساقطيږي مثال يې فَرَسَا زَيْدٍ، د مُسْلِمُوْنَ لفظ چې کله يې اضافت وشي؛ نو نون د جمعې به ساقطيږي، مثال يې لکه: مُسْلِمُوْ مِصْرَ يا لکه طَالِبُوْ عِلْمٍ او غُلَامَا زَيْدٍ.

٢- **فايده**: د اضافت نښې دا دي چې د پښتو په معنا کې يې: ده، يې، دي، ته او له راځي، لکه: غُلَامُ زَيْدٍ (د زيد غلام) غُلَامِيْ حَاضِرٌ (زما غلام حاضر ده) ضَرَبْتُ غُلَامِيْ (ما خپل غلام ووهلو.)

پنځلسم فصل

د اسماء متمکنه د اعراب بیان

اول قسم د اعراب د دریو اسمونو دپاره:
رفعه یې په ضمه لفظي، نصب یې په فتحه لفظـي او جـر یـې پـه کسـره لفظي سره دی.

دا درې اسمونه په لاندې ډول دي:

(۱) اسم مفرد منصرف صحیح ، لکه زَیْدٌ.

(۲) جاري په مجرئ د صحیح لکه دَلْوٌ او ظَبْيٌ.

(۳) جمعه مکسره منصرفه لکه رِجَالٌ.

د لا ښه وضاحت په خاطر یې مثالونه په لاندې ډول دي: جَاءَنِيْ زَیْدٌو دَلْوٌ،و ظَبْيٌ،و رِجَالٌ. رَاَیْتُ زَیْدًا،و ظَبْیًا و رِجَالاً و مَرَرْتُ بِزَیْدٍو دَلْوٍ و ظَبْيٍ و رِجَالٍ.

دویـم قسـم د اعـراب: جمعـه مؤنثـه سـالمه ده او د اعـراب حالتونه یې دوه دي: حالت رفعی یې په ضمه لفظي سـره راځـي لکـه: هُنَّ مُسْـلِمَاتٌ او حالت جري او نصبي یې دواړه په کسره لفظـي سـره اځي او نصب یې تابع د جر ده، مثال یـې لکـه: مَرَرْتُ بِمُسْـلِمَاتٍ، رَاَیتُ مُسْلِمَاتٍ.

دریم قسم د اسم غیر منصرف اعراب: حَالت رفعی یې په ضمه لفظي سره دی، لکه: جَاءَ عُمَرُ، حالت نصـبي او جـري یـې دواړه پـه

فتحه لفظي سره دي او جريې د نصب تابع دى لكه: رَأَيْتُ عُمَرَ. مَرَرْتُ بِعُمَرَ.

يادونه: په غير منصرف باندې كسره او تنوين ځكه نه شي راتلا. چې مشابه ده له فعل سره.

زده كړه دا خبره! چې اوس اعراب بالحرف شروع شو او تـ اوسه د اعراب بالحركت بيان ؤ او اعراب بالحركت تر اعراب بالحرف اصل دى.

څلورم قسم اعراب د اسماء سته مكبره: چې درې اعرابه په دريو حالتونو كې لري.

اسماء سسته مكبره په لاندې ډول دي:

(١) اَبٌ (٢) اَخٌ (٣) حَمٌ (۴) فَمٌ (۵) هَنٌ (۶) په (ذُوْ مَالٍ) كې (ذُوْ) خو چې يا د متكلم ته مضاف نه وي؛ نو د دوى اعراب بالحرف دى او رفعه يې په واو لفظي سره ده او نصب يې په الف لفظي سره دى لكه: رَأَيْتُ اَبَاكَ او جريې په يا لفظي سره دى، لكه: مَرَرْتُ بِاَبِيْكَ. او كه اضافت بالكل شوى نه ؤ؛ نو بيايې اعراب بالحركت دى او كه يې اضافت ياء د متكلم ته شوى ؤ، د هغه بيان را روان دى.

پنځم قسم د مثنى (تثنيې) اعراب: لكه: رَجُلَانِ. اِثْنَانِ. كِلَا او كِلْتَا خو په دې شرط چې اضافت د كلا او كلتا ضمير ته شوى وي؛ نو رفعي حالت يې په الف سره دى، لكه جَاءَ رَجُلَانِ، جَاءَ اِثْنَانِ، جاءَ كِلَاهُمَا، و جاءت المرءتان، جاءت كلتاهما.

نصبي او جري حالتونه يې دواړه په ياء ماقبل مفتوح سره دي،

لكه :رَأَيتُ رَجُلَيْنِ،رَأَيتُ كِلَيهِمَا،رَأَيتُ اثْنَيْنِ،مَرَرْتُ بِرَجُلَيْنِ،مَرَرْتُ بِكِلَيهِمَا،مَرَرْتُ بِاثْنَيْنِ. همدا شان په نصبي او جري حالت كې كِلْتَا ولولئ!

يادونه: إِثْنَتَانِ هم دارنګه حكم لري.

شپږم قسم د اعراب:

دوه قسمه اعراب د دريو اسمونو لپاره كارول كېږي.

دا دري اسمونه دا دي: جمعه مذكره سالمه: أُوْلُوْا وَ عِشْرُوْنَ

حالت رفعي يې په واو ساكن ماقبل مضموم سره دى، لكه: جَاءَ مُسْلِمُوْنَ وَ أُوْلُوْ مَالٍ وَ عِشْرُوْنَ رَجلاً، حالت نصبي او جري يې دواړه په ياء ساكنه ماقبل مكسور سره دي، لكه: رَأَيتُ مُسْلِمِيْنَ وَ اولى مَالٍ وَ عِشْرِيْنَ رَجُلًا، مَرَرْتُ بِمُسْلِمِيْنَ وَ بِأُوْلِيْ مَالٍ وَ بِعِشْرِيْنَ رَجُلاً.

اووم قسم اعراب:

دري حالتونه د دوه اسمونو لپاره:

۱- اسم مقصوره لكه: موسٰى

۲- له جمعي مذكرې سالمې نه ماسوا كوم بل اسم چې مضاف وي ياء د متكلم ته؛ نو دري واړه حالتونه يې تقديري دي، لكه: جَاءَ مُوْسٰى وَ غُلَامِيْ دلته مُوْسٰى او غُلَامِيْ دواړه تقديراً مرفوع دي، رَأَيتُ مُوْسٰى وَ غُلَامِيْ، مَرَرْتُ بِمُوْسٰى وَ بِغُلَامِيْ.

اتم قسم د اعراب:

د يوه اسم لپاره چې دوه حالتونه يې (ضمه او كسره) تقديري او د نصب حالت يې لفظي دي.

چې هغه اسم منقوص دی: چې په اخر کې يې ياء ماقبل مکسور وي، لکه: جَاءَ الْقَاضِيْ، رَاَيْتُ الْقَاضِيَ، مَرَرْتُ بِالْقَاضِيْ.

نهم قسم د اعراب:

د يوه اسم لپاره دوه ډوله اعراب:

اسم جمعه مذکره سالمه چې مضاف وي ياء د متکلم ته؛ نو حالت رفعي يې په واو تقديري، حالت نصبي او جري يې په ياء ماقبل مکسور سره دي، مثالونه يې په لاندې ډول دي.

(۱) هٰؤُلَاءِ مُسْلِمِيَّ، (۲) رَاَيْتُ مُسْلِمِيَّ، (۳) مَرَرْتُ بِمُسْلِمِيَّ

فايده: مُسْلِمِيَّ په اصل کې مُسْلِمُوْنَ وو، چې کله يې "ياء" د متکلم ته اضافت وشو؛ نو "نون" د جمع يې په وجه د اضافت وغورځولو، مُسْلِمُوْيَ پاته شو، اوس "واو" او "يا" جمع شو "واو" ساکن و، له دې وجې په قاعده د مَرْمِيٌّ "واو" يې په "يا" بدل کړو او "يا" يې په "يا" کې مدغمه کړه مُسْلِمُيَّ شو، بيا يې ضمه د ميم د "ياء" د مناسبت له وجې په کسره بدله کړه مُسْلِمِيَّ شو.

فايده: د مُسْلِمِيَّ نصبي او جري حالت په اصل کې مُسْلِمِيْنَ ده، ځکه چې د جمع مذکر سالم نصبي او جري حالت په "ياء" ما قبل مکسور سره راځي، د اضافت له وجې دلته نون حذف شو، وروسته واو په ياء بدلول ضروري نه ؤ، ځکه چې د نصبي او جري حالت له وجې د اول نه "يا" موجوده وه، له دې وجې يې يواځې "يا" نه په "يا" کې ادغام وکړو.

شپاړسم فصل

توابع

زده کړه دا خبره! چې کله په یوه جمله کې دوه اسمونه موجود وي او د دویم اسم اعراب له یوه جهت نه د اول اسم سره موافق وي؛ نو اول اسم ته "متبوع" او دوهم ته "تابع" ویل کېږي.

تابع: هر هغه دویم اسم ته ویل کېږي چې د اول اسم سره په اعراب او جهت دواړو کې موافق وي، یعني که متبوع د فاعل کېدو له وجې نه مرفوع، د مفعول کېدو له وجې نهِ منصوب، د مضاف الیه کېدو له وجې نه مجرور وي؛ نو تابع به هم دغه شان وي.

د تابع پنځه قسمونه دي:

۱- **صفت** ۲- **تاکید** ۳- **بدل** ۴- **عطف په حرف**(**معطوف**) ۵- **عطف بیان**.

۱- **صفت**: هغه تابع دی چې د متبوع(موصوف) ښه یا بد حالت بیانوي، لکه: جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ، په دې مثال کې عَالِمٌ د رَجُلٌ چې (متبوع ده) علمي حالت ظاهر کړی ده، (جَاءَنِيْ رَجُلٌ بَخِيْلٌ) دلته د بدی بیان پکې شوی ده، یا د متبوع د متعلق حالت ظاهر کړي، لکه: جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ اَبُوْهُ په دې مثال کې عَالِمٌ د اَبُوْهُ علمي حالت ظاهر کړی ده چې هغه د رَجُلٌ (متبوع) متعلق ده.

نو د صفت دوه قسمونه شول:

(۱) **صفت بحاله**: هغه چې د خپل متبوع(موصوف) حالت ظاهر کړي. لکه: جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ

د صفت اول قسم (صفت بحاله) به په لسو شیانو کې د متبوع سره موافق وي: او هغه لس شیان دا دي:

۱- **تعریف** ۲- **تنکیر** ۳- **تذکیر** ۴- **تانیث** ۵- **افـــــراد**
۶- **تثنیه** ۷- **جمع** ۸- **رفع** ۹- **نصب** ۱۰- **جر**

لکه: عِنْدِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ. رَجُلَانِ عَالِمَانِ. رِجَالٌ عَالِمُوْنَ.
اِمْرَأَةٌ عَالِمَةٌ. اِمْرَاَتَانِ عَالِمَتَانِ. نِسْوَةٌ عَالِمَاتٌ.

(۲) **صفت بحال متعلقه** هغه چې د متبوع (موصوف) حال نه، بلکې د هغه چا چې په موصوف پورې تعلق لري د هغه حال ښکاره کوي، لکه: جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ اَبُوْهُ په دې دویم قسم کې په پنځو شیانو کې د متبوع سره مطابقت ضروري دی

۱- تعریف ۲- تنکیر ۳- رفع ۴- نصب ۵- جر

لکه: جَاءَتْنِيْ اِمْرَأَةٌ عَالِمٌ اِبْنُهَا.

په دې مثال کې د عَالِمٌ او اِمْرَأَةٌ اعراب که څه هم یو ده، خو څرنګه چې د عَالِمٌ نه د اِبْنُهَا د لفظ حالت ظاهریږي له دې وجې نه عَالِمٌ مذکر راوړل شوی ده

فایده: د نکرې صفت په جمله خبر یه سره هم کېدلی شي او په دې جمله کې د ضمیر راوړل ضروري دي چې هغه ضمیر د نکرې طرف ته راجع وي، ځکه چې جمله مِنْ حَيْثُ هِيَ هِيَ مستقله ده، ربط نه قبلوي، لکه: جَاءَنِيْ رَجُلٌ اَبُوْهُ عَالِمٌ.

۱- ترکيب جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ: جَاءَ فعل، "نون" د وقايې، "يا" د متکلم مفعول به، رَجُلٌ موصوف، عَالِمٌ يې صفت، موصوف سره له صفته، دا فاعل شو د فعل دپاره، فعل سره له فاعل او مفعول به، دا جمله فعليه خبر يه شوه

۲- ترکيب: جَاءَتْنِيْ اِمْرَأَةٌ عَالِمٌ اِبْنُهَا: جَاءَتْ فعل، "نون" د وقايه "يا" د متکلم مفعول به، اِمْرَأَةٌ موصوف، عَالِمٌ اسم فاعل، اِبْنٌ مضاف، هَا مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه دا فاعل شو د عالم دپاره، عالمٌ اسم فاعل، سره له خپل فاعل دا صفت شو دپاره د موصوف، موصوف سره له خپل صفته دا فاعل شو د جَاءَتْ، جَاءَتْ فعل له خپل فاعل او مفعول به سره، دا جمله فعليه خبريه شوه.

۳- ترکيب: جَاءَنِيْ رَجُلٌ اَبُوْهُ عَالِمٌ: جَاءَ فعل، (نون) وقايه (يَا) د متکلم مفعول به، رَجُلٌ موصوف، اَبُوْ مضاف "ه" ضمير مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه مبتدا، عَالِمٌ يې خبر، مبتدا سره له خبره دا جمله اسميه خبر يه صفت شو دپاره د موصوف، موصوف سره له صفته دا فاعل شو د جَاءَ، فعل له خپل فاعل او مفعول به سره دا جمله فعليه خبر يه شوه.

تمرين:

ترکیب بیان کړئ!

رَاَيْتُ اِمْرَاَةً عَالِمَةً. مَرَرْتُ بِرَجُلٍ عَالِمَةٍ بِنْتُه.

جَاءَنِيْ رَجُلٌ مَاتَ اَبُوْهُ. ((اَخْرِجْنَا مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ اَهْلُهَا))

اُسْكُنْ فِيْ تِلْكَ الدَّارِ الْمَفْتُوْحِ بَابُهَا.

۲- **تاکید**: هغه تابع ده چې د متبوع طرف ته کوم نسبت شوی وي هغه لاپسې ټينګ کړي چې اوريدونکي ته کوم شک پاتې نـه شـي، لکه: جَاءَ زَيْدٌ زَيْدٌ، په دې مثال کې دويم زَيْدٌ چې تاکيد ده د اول زَيْدٌ د نسبت دپاره چې د جَاءَ طرف ته شوی ده؛ نو هغه نسبت يې نور هم پسې ټينګ کړ، چې د زَيْدٌ په راتللو کې څه شک نه شو پاتـه. او لکه: جَاءَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ، په دې کې كُلُّهُمْ چې تاکيد ده، د قوم شامل کېدل يې ښه ټينګ کړي چې ټول قوم راغلی، يو هم (پاته) نه ده.

تاکيد په دوه قسمه دی: ۱- لفظي ۲- معنوي.

۱- **تاکيدِ لفظي**: هغه ده چې په ده کې لفظ مکرر راوړل شـي لکه: جَاءَ زَيْدٌ زَيْدٌ.

۲- **تاکيدِ معنوی**: په اتو (۸) لفظو کېږي:

نَفْسٌ	عَيْنٌ	كِلَا	كِلْتَا	كُلٌّ	اَجْمَعُ	اَكْتَعُ	اَبْصَعُ

نَفْس، عَيْن: دا دوه لفظه د واحد، تثنيې، جمعې درې واړو د تاکيد دپاره راځي، په دې شرط چې د دوی صيغو او ضميرو ته بدل

والی ورکړی شي، لکه: جَاءَ زَيْدٌ نَفْسُه، جَاءَ الزَّيْدَانِ اَنْفُسُهُمَا، جَاءَ الزَّيْدُوْنَ اَنْفُسُهُمْ.

د عَيْنٌ مثال هم داشان وبوله! لکه: جَاءَ زَيْدٌ عَيْنُه.

كِلَا: د تثنيې مذكر او كِلْتَا: د تثنيې مؤنث د تاكيد دپاره راځي، لکه: جَاءَ الرَّجُلَانِ كِلَاهُمَا، جَاءَتِ الْمَرْاَتَانِ كِلْتَاهُمَا.

كُلٌّ او اَجْمَعُ: دا دواړه د واحد او جمع د تاكيد دپاره راځي، لکه: قَرَاْتُ الْكِتَابَ كُلَّه، جَاءَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ، اِشْتَرَيْتُ الْفَرَسَ اَجْمَعَه، جَاءَ النَّاسُ اَجْمَعُوْنَ.

اَكْتَعُ، اَبْتَعُ، اَبْصَعُ: دا درې واړه تابع دي د اَجْمَعُ يعني بغير د اَجْمَعُ نه راځي او په اَجْمَعُ مقدم هم نه راځي، لکه: جَاءَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ اَكْتَعُوْنَ، اَبْتَعُوْنَ، اَبْصَعُوْنَ،

تركيب: جَاءَ فعل، اَلْقَوْمُ موكد، كُلُّ مضاف، هُمْ مضاف اليه، مضاف سره له مضاف اليه دا تاكيد، اَجْمَعُوْنَ دويم تاكيد، موكد سره له خپلو دواړو تاكيدونو دا فاعل شو د فعل لپاره، فعل سره له خپل فاعل او تاكيدونو دا جمله فعليه خبريه تاكيديه شوه.

تركيب بيان كړئ!

سَجَدَ الْمَلٰئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ.   رَاَيْتُ الْاَمِيْرَ نَفْسَه.

۳- **بدل**: بدل په لغت کې عوض ته ویل کېږي.
په اصطلاح کې هر هغه تابع ته ویل کېږي چې د نسبت نه خپله دی مقصود وي، متبوع (مبدل منه) مقصود نه وي. د بدل څلور قسمونه دي:

۱- **بدل الکل** ۲- **بدل البعض** ۳- **بدل الاشتمال** ۴- **بدل الغلط**.

بدل الکل: هغه ده چې د بدل او مبدل منه مصداق یو وي، لکه: جَاءَنِيْ زَيْدٌ أَخُوْكَ او قَرَأْتُ الْكِتَابَ رَوْضَةَ الْأَدَبِ.

بدل البعض: هغه دی چې بدل د مبدل منه د مصداق جزء (برخه) وي، لکه: ضُرِبَ زَيْدٌ رَأْسُه؛ نو سر د زید د بدن یوه برخه ده.

بدل الاشتمال: هغه دی چې د بدل د مبدل منه سره څه تعلق وي، لکه: سُلِبَ زَيْدٌ ثَوْبُه، سُرِقَ عَمْرٌو مَالُه. په اول مثال کې ثَوْبٌ (جامه) په زید پورې متعلقه ده او په دویم مثال کې مَال له عَمرو سره تعلق لري.

بدل الغلط: هغه دی چې د غلطۍ نه وروسته د صحیح لفظ سره ذکر شوی وي، لکه: اِشْتَرَيْتُ فَرَسًا حِمَارًا (ما اس واخیست، نه، نه خر) جَاءَ زَيْدٌ جَعْفَرٌ (راغی ماته زید، نه، نه جعفر).

۴- **عطف په حرف**: (معطوف) هغه تابع ده چې د حرف عطف نه وروسته راشي او چې کوم نسبت د متبوع طرف ته وي، هم هغه د تابع طرف ته وي، متبوع ته معطوف علیه او تابع ته معطوف وايي، لکه: جَاءَ زَيْدٌ وَعَمْرٌو، نو لکه چې د مجیئت (راتګ) نسبت د زَيْدٌ طرف ته

شوی دی، داسې د حرف عطف په واسطه د عَمْرٌو طرف ته هم شوی دی.

د عطف حرفونه دا دي: (و،ف،ثُمَّ،حَتّٰی،اما،اَوْ،اَمْ،لَا،بَلْ، لٰكِنْ)

۵- **عطف بیان**: هر هغه تابع ته ویل کېږي چې په حقیقت کې صفت نه وي، خو د خپل متبوع په څرګندوالي دلالت کوي او هغه به په دوو نومونو کې یوم مشهور نوم وي، لکه: جَاءَ زَيْدٌ اَبُوْ عَمْرٍو یعنې (زید راغی چې د ابو عمرو په کنیت سره مشهور دی) نو دلته اَبُوْ عَمْرٍو عطف بیان دہ او یا لکه: جَاءَ اَبُوْ ظَفْرٍ عَبْدُاللهِ، (یعنې ابو ظفر راغی چې د عبدالله په نوم مشهور دی) دلته عبدالله عطف بیان دی.

۱- **ترکیب**: جَاءَنِيْ زَيْدٌ اَخُوْكَ: جَاءَ فعل "نون" د وقایې (یا) د متکلّم مفعول به، زَيْدٌ: مبدل منه، اَخُوْ مضاف، كَ مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه دا بدل شو د مبدل منه دپاره، بدل سره د مبدل منه دا فاعل شو د جَاءَ دپاره، فعل سره له فاعله سره له مفعول به، دا جمله فعلیه خبریه شوه.

۲- **ترکیب**: ضُرِبَ زَيْدٌ رَاْسُه: ضُرِبَ فعل مجهول، زَيْدٌ مُبدل منه رَاْسُ مضاف، "ه" ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه بدل شو د مبدل منه دپاره، مبدل منه سره له بدله دا به مفعول

مالم یسم فاعله شي د ضُرِبَ دپاره، فعل سره له مفعول ما لم یسم فاعله دا به جمله فعلیه خبریه شي.

۳- ترکیب: اِشْتَرَیْتُ فَرَسًا حِمَارًا: اِشْتَرَیْتُ فعل او فاعل، فَرَسًا مبدل منه، حِمَارًا بدل، بدل سره له مبدل منه دا مفعول به شو دپاره د اِشْتَرَیْتُ، فعل سره له فاعل سره له مفعول به دا جمله فعلیه خبریه شوه.

۴- ترکیب: جَاءَ زَیْدٌ وَّ عَمْرٌو: جَاءَ فعل، زَیْدٌ معطوف علیه، "واو" حرف عطف، عَمْرٌو معطوف، معطوف سره له معطوف علیه دا فاعل د جَاءَ شو، جَاءَ فعل سره له فاعل، دا جمله فعلیه خبریه شوه.

۵- ترکیب: جَاءَ زَیْدٌ اَبُوْ عَمْرٍو: جَاءَ فعل، زَیْدٌ متبوع، اَبُوْ مضاف، عَمْرٍو مضاف الیه، مضاف سره له مضاف الیه دا تابع عطف بیان شو، متبوع سره د تابع دا فاعل شو د جَاءَ، فعل سره له فاعله دا جمله فعلیه خبریه شوه.

تمرین

ترکیب بیان کړئ!

قَامَ عَمْرٌو وَ اَبُوْكَ. قُطِعَ زَیْدٌ یَدُهٗ. سُرِقَ حَمِیْدٌ نِعَالُهٗ.

بِعْتُ جَمَلًا فَرَسًا. ذَهَبَ بَکْرٌ وَ خَالِدٌ. جَاءَ اَبُو الظَّفْرِ عَبْدُ اللهِ.

اوولسم فصل

د لفظي او معنوي عواملو بيان

عوامل دا عراب په دوه قسمه دي ۱- لفظي ۲- معنوي.

لفظي عامل هغه ده چې په لفظ کې موجود وي، لکه: عَلَى الْاَرْضِ کې چې عَلى د اَرْضِ کلمه مجرور کړې ده او په جَاءَ زَيْدٌ کې جاءَ عامل لفظي ده او زيدٌ ته يې رفعه ورکړي.

د لفظي عامل درې قسمونه دي: ۱- حروف ۲- أسماء ۳- أفعال.

اتلسم فصل

حروف عامله په اسم کې

کوم حروف چې په اسم کې عمل کوي. هغه اوه (۷) قسمونه دي.

۱- **حروف جاره:** هغه دي چې اسم ته جر(زير) ورکوي او دا اولس(۱۷) دي.

با، و تا، و کاف، لام و او و منذ و مذ، خَلَا

رُبَّ، حاشَا، مِنْ، عَدَا، فِي، عَنْ، عَلى، حتّى، إلى

د هر يوه مثالونه په لاندې ډول دي:

(۱) **د با مثال** مَرَرْتُ بِزَيْدٍ. (۲) **د تا مثال:** تَاللهِ لَاَفْعَلَنَّ كَذَا.

(۳) **د کاف مثال** زَيْدٌ كَالْاَسَدِ. (۴) **دلام مثال** اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ.

(۵) **د واو مثال** وَاللهِ لَاَفْعَلَنَّ كَذَا. (۶) **د في مثال** زَيْدٌ فِي الدَّارِ.

(۷) **د عن مثال** سَأَلْتُهُ عَنْ اَمْرٍ. (۸) **د على مثال** قَامَ زَيْدٌ عَلَى السَّطْحِ.

(٩) د منذمثال: مَا رَاَيتُه مُنْذُ يَوْمِ الْجُمُعَةِ.

(١٠) د خلا مثال: جَاءَنِي الْقَوْمُ خَلَا زَيْدٍ.

(١١) د رُبَّ مثال: رُبَّ عَالِمٍ يَعْمَلُ بِعِلْمِه.

(١٢) د حاشا مثال: جَاءَنِي الْقَوْمُ حَاشَا زَيْدٍ.

(١٣) د عدا مثال: جَاءَنِي الْقَوْمُ عَدَا زَيْدٍ.

(١٤) د من او الى مثال: سِرْتُ مِنْ اَفْغَانِسْتَان اِلى الْمَدِيْنَةِ.

(١٥) د حتى مثال: اَكَلْتُ السَّمَكَةَ حَتّي رَاْسِهَا.

(١٦) د مذ مثال: مَا جَاءَنِيْ زَيْدٌ مُذْ خَمْسَةِ اَيَّامٍ.

٢- **حروف مشبه بالفعل**: هغه دي چې اسم ته نصب او خبر تـه رفع ورکوي او داشپږ دي.

اِنَّ او اَنَّ، كَاَنَّ، لَيْتَ، لٰكِنَّ، لَعَلَّ

ناصب د اسم دي او رافع د خبر دي دائماً

مثالونه

(١) د اِنَّ مثال: اِنَّ زَيْدًا قَايِمٌ.

(٢) د اَنَّ مثال: بَلَغَنِيْ اَنَّ زَيْدًا مُنْطَلِقٌ.

(٣) د كَاَنَّ مثال: كَاَنَّ زَيْدًا اَسَدٌ.

(٤) د لكنَّ مثال: غَابَ زَيْدٌ وَلٰكِنَّ بَكْرًا حَاضِرٌ.

(٥) د لَيْتَ مثال: لَيْتَ زَيْدًا قَايِمٌ.

(٦) د لَعَلَّ مثال: لَعَلَّ السُّلْطٰنَ يُكْرِمُنِيْ.

۳- **ماولا:** چې په عمل کولو کې د لَيْسَ مشابه دي.

د ما او لا عمل ده إِنَّ او أَنَّ خلاف دی
رافع د اسم او ناصب د خبر دي همېشه

مثالونه

مَازَيْدٌقَايِمًا. لَارَجُلٌظَرِيفًا.

۴- **لاء لنفي الجنس:** د لا اسم زياتره وخت مضاف منصوب وي او خبر يې مرفوع وي، لکه: لَاغُلَامَ رَجُلٍ ظَرِيفٌ فِي الدَّارِ.

او که چېرته اسم نکره مفرد وي؛ نو په فتحه مبني کېږي،[۱] لکه: لَارَجُلَ فِي الدَّارِ او که چيرې اسم د لَا وروسته د لا څخه معرفه ذکر وه؛ نو د بلې معرفې سره دويمه لَا راوړل ضروري دي؛ خو لَا به په دې وخت کې څه عمل نه کوي او معرفه به د مبتدا په حيثيت سره مرفوع وي، لکه: لَازَيْدٌعِنْدِيْ وَلَاعَمْرٌو، لَاخَالِدٌهٰهُنَا وَلَاسَعِيْدٌ.

(دا مثالونه د تکرير د اسم د لَا دي، له معرفې سره)

---

[۱] اسم د لا د نفي جنس چې نکره مفرد يعني مضاف او شبه مضاف نه وي. په فتحه مبني کيږي، ځکه چې دا متضمن دی معنی د منْ استغراقي لره، چې معنا ددې قول چې لاَرَجُلَ فِي الدَّارِ داسې ده: لا من رجلٍ فی الدار، په اصل کې دا خواب دی د هغه چا دپاره چې وايي: هل من رجل فی الدار؟ نو منْ يې تخفيفا حذف کړو. (هداية النحو)

خلاصه: د لا لنفی الجنس نه غرض د یو شي نشتوالی ښکاره کول دي؛ نو که له دې نه وروسته د دوو معرفو نشتوالی (نفي د ماهیت) ښودل وي؛ نو لَا دوه واره د هرې معرفې په پیل کې راوړل کیږي، او دواړه معرفې بنا په ابتدائیت د رفعې سره ولولئ؛ او که د دوو نکرو نشتوالی ښودل وي؛ نو دواړه په پنځو ډولونو لوستلی شئ[1]

١.لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ وَلَا امْرَأَةَ ٢.لَا رَجُلٌ فِي الدَّارِ وَلَا امْرَأَةٌ

٣.لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ وَلَا امْرَأَةً ۴.لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ وَلَا امْرَأَةٌ

۵.لَا رَجُلٌ فِي الدَّارِ وَلَا اِمْرَأَةَ

۵- **حروفِ ندا**: چې منادیٰ مضاف ته نصب ورکوي د نداء حرفونه پنځه دي: يَا،اَيَا،هَيَا،اَيْ،اَ،(همزه مفتوحه) لکه: يَا عَبْدَاللهِ.

"اَيْ او اَ" د نږدې دپاره او "اَيَا، و هَيَا" د لرې دپاره کارول کیږي او "يَا" عامه ده، د نږدې او لرې دواړو دپاره کارول کیږي.

۶- **واو**: خو چې په معنیٰ د مع سره وي، لکه: اِسْتَوَى الْمَآءُ وَالْخَشَبَةَ.

٧- **اِلَّا**: حرفِ استثناء، لکه: جَاءَ الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا.

---

(١) ١:- فتحه د رجلَ او امراةَ له دې وجې چې لَـا پـه دواړو کـې دپاره د نفي جنس ده، ٢:- رفع د دواړو بنا په حمل د دواړو په ابتدائیت، ٣:- فتحه د اول ځکه چې لا دپاره د نفي جنس ده او نصب د دویم ځکه چې لا زائده دپاره د تاکید د نفي ده، ۴:- فتحه د اول د وجې د لا د نفي جنس او رفع د ثاني ځکه چې لا زائده دپاره د تاکید د نفي ده، ۵:- رفع د اول بنا په دې چې لا په معنا د لیس ده او فتحه د ثاني ځکه چې لا په دې کې د نفي جنس ده.

(درایة النحو په حاشیه د هدایة النحو ٣٦ مخ)

نولسم فصل

حروفِ عامله په فعل مضارع کې

زده کړه دا خبره! په فعل مضارع کې چې کوم حروف عمل کوي هغه په دوه قسمه دي: ۱- **حروف ناصبه** ۲- **حروف جازمه**.

حروفِ ناصبه دا دي:

اَنْ، لَنْ، کَیْ او اِذَنْ دا حــــروف ناصبه دي

ورکوي نصب فعل مضارع لره بې روی او ریا

مثالونه

۱- **اَنْ، لکه: اُرِیْدُ اَنْ تَقُوْمَ،** او اَنْ خپل مدخول په تاویل د مصدر سره اړوي؛ نو د مخکني مثال مطلب به داسې شي اُرِیْدُ قِیَامَكَ، له دې وجې ورته اَنْ مصدریه هم وایي.

۲- **لَنْ لکه: لَنْ یَّذْهَبَ عَمْرٌو**، لَنْ د تاکید د نفي دپاره راځي.

۳- **کَیْ لکه: اَسْلَمْتُ کَيْ اَدْخُلَ الْجَنَّةَ.**

۴- **اِذَنْ لکه: اِذَنْ اَشْكُرَكَ**، د هغه سړي په ځواب کې ویل کېږي چې هغه ووایي: اَنَا اُعْطِیْكَ دِیْنَارًا.

فایده: اَنْ له شپږو حرفونو وروسته مقدر کیږي او فعل مضارع ته نصب ورکوي:

(۱) له حتّی جاره څخه وروسته لکه: مَرَرْتُ حتّي اَدْخُلَ

اَلْبَلَدَ. په اصل کې حتی ان ادخل البَلَدَ دی.

(۲) د لامِ جَحد نه وروسته لکه: (مَا كَانَ اللهُ لِيُعَذِّبَهُمْ) په اصل کې لِاَنْ يُّعَذِّبَهُمْ ده.

(۳) له هغه اَوْ نه وروسته چې د الی اَنْ، یا اِلَّا اَنْ په معنی باندې وي، لکه: لَاَلْزَمَنَّكَ اَوْ تُعْطِيَنِيْ حَقِّيْ (اَیْ اِلٰی اَنْ تُعْطِيَنِيْ حَقِّيْ).

(۴) واوِ صرف: یعنې له هغه واو عاطفه وروسته به هم اَنْ مقدر کېږي چې د هغه په معطوف علیه باندې کوم شی داخل وي هغه به په معطوف نشي داخلېدلی، لکه: په لاندې شعر کې يې مثال ليدل کېږي.

لَا تَنْهَ عَنْ خُلُقٍ وَتَاْتِيَ مِثْلَه

عَارٌ عَلَيْكَ اِذَا فَعَلْتَ عَظِيْمٌ

نو په دې شعر کې د "واوِ صرف" (عاطفه) مد خول تَاْتِيَ مِثْلَه دی، په دې باندې د لَا تَنْهَ لا نه داخلېږي، معنی د شعر دا ده چې کوم بد کار ته خپله کوې له هغې نه نور مه منع کوه، ځکه چې که چېرې ته داسې کوې؛ نو دا به لويه د شرم خبره وي.

(۵) د لامِ کَیْ نه وروسته هم اَنْ مقدر کېږي لکه: اَسْلَمْتُ لِاَدْخُلَ الْجَنَّةَ اَیْ لِاَنْ اَدْخُلَ الْجَنَّةَ.

(۶) له هغه فَا نه وروسته هم اَنْ مقدر کېږي چې هغه د شپږو شیانو په خواب کې واقع وي لکه: امر، نهي، نفي، استفهام، تمنا، عرض.

(۱) **امر** لکه: زُرْنِيْ فَاُکْرِمَكَ ای فَاَنْ اُکْرِمَكَ.

(۲) **نهي** لکه: لَاتَشْتِمْنِيْ فَاُهِيْنَكَ. اَیْ فَاَنْ اُهِيْنَكَ.

(۳) **نفي** لکه: مَاتَاْتِيْنَافَتُحَدِّثَنَا اَیْ فَاَنْ تُحَدِّثَنَا.

(۴) **استفهام** لکه: اَيْنَ بَيْتُكَ فَاَزُوْرَكَ اَیْ فَاَنْ اَزُوْرَكَ.

(۵) **تمنّي** لکه: لَيْتَ لِيْ مَالًا فَاُنْفِقَ مِنْهُ اَیْ فَاَنْ اُنْفِقَ.

(۶) **عرض** لکه: اَلَاتَنْزِلُ بِنَافَتُصِيْبَ خَيْرًا، اَیْ فَاَنْ تُصِيْبَ خيراً.

حروفِ جازمه پنځه (۵) دي

اِنْ، ولَمْ، لَمَّا ولامِ امر او لا د نهي هم

جازم د فعل دي ته دوی نه هر يو بې دغا (بې چل او فريبه)

مثالونه:

د لَمْ مثال: لَمْ يَنْصُرْ — د لَمَّا مثال لَمَّا يَنْصُرْ

د لام مثال لِيَنْصُرْ — د نهي مثال لَا يَنْصُرْ

د اِنْ مثال اِنْ تَنْصُرْ اَنْصُرْ.

يادونه: اِنْ شرطيه په دوو جملو باندې د اخلېږي، لکه: اِنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ. اولې جملې ته شرط او دويمې ته جزا وايي او اِنْ د مستقبل دپاره راځي که څه هم په ماضي باندې داخل شي، لکه: اِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ.

۱- **فایده**: که چېرته د شرط جزا جمله اسمیه وي یا امر یا نهي یا دعا وي؛ نو "فا" په جزا کې راوړل ضروري دي، مثالونه يې په لاندې ډول دي:

(۱) چې جزا جمله اسمیه وي لکه: إِنْ تَأْتِنِيْ فَأَنْتَ مُكْرَمٌ.

(۲) چې جزا امر وي لکه: إِنْ رَأَيْتَ زَيْدًا فَأَكْرِمْهُ.

(۳) چې جزا نهي وي لکه: إِنْ أَتَاكَ عَمْرٌو فَلَا تُهِنْهُ.

(۴) چې جزا دعا وي لکه: إِنْ أَكْرَمْتَنِيْ فَجَزَاكَ اللهُ خَيْرًا.

۲- **فایده**: چې کله ماضي د دعا په موقع باندې راشي، یا په دې باندې حرف شرط، یا حرفِ موصول داخل وي؛ نو د مستقبل په معنا به وي.

لکه: أَسْعَدَكَ اللهُ فِي الدَّارَيْنِ.

شلم فصل

عمل د افعالو

زده کړه دا خبره! چې هیڅ یو فعل داسې نشته چې عمل نه کوي او اصل په عمل کې فعل دی، د عمل په اعتبار سره فعل په دوه ډوله دی: (۱) **معروف** (۲) **مجهول**.

بیا د فعل معروف دوه قسمونه دي: (۱) **لا زم** (۲) **متعدي**.

۱- **فعل معروف**: هغه دی چې فاعل يې معلوم وي لکه: ضَرَبَ زَيْدٌ د ضَرَبَ فاعل معلوم دی.

(۲) **فعل مجهول** هغه دی چې فاعل يې معلوم نه وي لکه

ضُرِبَ زَيدٌ زيد وهل شوی دی، فاعل یې معلوم نه دی.

فعل معروف: برابره خبره ده لازم وي که متعدي، فاعل ته رفعه ورکوي، لکه: قَامَ زَيْدٌ، ضَرَبَ عَمْرٌو. او فعل معلوم متعدي شپږو [1] اسمونو ته نصب ورکوي او هغه شپږ اسمونه دادي:

١- مفعول مطلق ٢- مفعول فيه ٣- مفعول معه

٤- مفعول له ٥- حال ٦- تميز

د دغو بيان په منصوباتو کې تېر شوی دي.

فعل مجهول: په ځای د فاعل مفعول ته رفع ورکوي او نورو مفعولاتو ته نصب ورکوي، لکه: ضُرِبَ زَيْدٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَمَامَ الْأَمِيرِ ضَرْبًا شَدِيْدًا فِيْ دَارِهٖ تَأْدِيْبًا.

فعل مجهول ته فعلِ مالم يسّم فاعله او د هغه مرفوع ته مفعول مالم يسّم فاعله وايي.

فعل متعدي: هغه دی چې فاعل او مفعول دواړه غواړي لکه: ضرب زيدٌ بكراً.

فعل لازمي: هغه دی چې يوازې په فاعل تمامېږي مفعول ته اړتيا نه لري، لکه: قَامَ زَيدٌ.

فعل متعدي په درې ډوله دی:

١- **متعدي يو مفعول ته**، لکه: ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا .

٢- **متعدي دوه مفعولو ته**، چې په ده کې د يو مفعول ذکر کول

---

[1] فعل متعدي مفعول به ته هم نصب ورکوي.

جائز وي[1]، لکه اَعْطٰی او هغه چې د اَعْطٰی هم معنی وي لکه: اَعْطَیْتُ زَیْدًا دِرْهَمًا، دلته اَعْطَیْتُ زَیْدًا ویل هم جائز دي.

او متعدی دوه مفعولو ته چې په ده کې یو مفعول[2] راوړل جائز نه دی او دا افعال قلوب دي.

رَاَیْتُ، وَجَدْتُّ، عَلِمْتُ او زَعَمْتُ

بیا حَسِبْتُ، خِلْتُ او ظَنَنْتُ بې له خطا

اولني درې د یقین لپاره کارول کېږي او درې اخرني د شک لپاره استعمالېږي او زَعَمْتُ د دواړو لپاره کارول کېږي.

مثالونه یې دا دي:

رَاَیْتُ سَعِیْدًا ذاهبا. وَجَدْتُّ رَشِیْدًا عَالِمًا.

عَلِمْتُ عمراً اَمِیْنًا. زَعَمْتُ اللهَ غَفُوْرًا. دلته زعمت (لپاره د یقین) ده، زَعَمْتُ الشَّیْطٰنَ شَکُوْرًا. دلته زعمت (د شک دپاره) ده حَسِبْتُ زَیْدًا فَاضِلًا. خِلْتُ خَالِدًا قَائِمًا. ظَنَنْتُ بَکْرًا نَائِمًا.

۳- **هغه افعال چې متعدي درې مفعولونو ته وي، هغه دا دي:** اَعْلَمُ، اَرٰی، اَنْبَاَ، اَخْبَرَ، خَبَّرَ، نَبَّاَ، حَدَّثَ، لکه: اَعْلَمْتُ زَیْدًا عَمْرًا فَاضِلًا، رَاَیْتُ عَمْرًا خَالِدًا نَائِمًا، دا ټول مفعولات مفعول به دي.

---

[1] یعني د یو مفعول په ذکر باندې هم اکتفا کول جائز دي.

[2] بلکې د یو مفعول سره د دویم ذکر کول ضروري دي.

افعالِ ناقصه:

يادونه: افعال ناقصه که لازمي هم وي.يـواځې په فاعل نـه تمـاميږي بلکې خبر ته هم محتاج وي، له دې وجې دوی ته افعالِ ناقصه وايي. دا په جمله اسميه کې مسند اليه ته رفع او مسند ته نصـب ورکـوي او د دوی شـمېر ديـارلس (۱۳) دي. (يعنـې اسـم مرفـوع او خبـر منصـوب غواړي)

كَانَ، صَارَ، اَصْبَحَ، اَمْسٰی وَاَضْحٰی، ظَلَّ، بَاتَ

مَابَرِحَ، مَادَامَ، مَاانْفَكَّ، لَيْسَ ده او مافتیٰ

د شعر ژباړه:

داسې ده مازال، بيا کوم افعال چې له دوی څخه (مشتق) دي هم هغه عمل به کوي چې کوم د اصل ديارلسو (۱۳) عمل دی.

مثالونه:

(۱) كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا. (۲) صَارَ الطِّيْنُ خَزَفًا.

(۳) اَصْبَحَ زَيْدٌ غَنِيًّا. (۴) اَضْحٰي زَيْدٌ حَاكِمًا.

(۵) اَمْسٰی عَمْرٌو قَائِمًا. (۶) ظَلَّ بَكْرٌ كَاتِبًا.

(۷) بَاتَ خَالِدٌ نَائِمًا. (۸) اِجْلِسْ مَادَامَ زَيْدٌ جَالِسًا.

(۹) مَابَرِحَ خَالِدٌ صَائِمًا. (۱۰) مَاانْفَكَّ وَحِيْدٌ عَاقِلًا.

(۱۱) مَافَتِیٔ سَعِيْدٌ فَاضِلًا. (۱۲) مَازَالَ بَكْرٌ عَالِمًا.

(۱۳) لَيْسَ زَيْدٌ قَائِمًا.

افعالِ مقاربه:

د شعر ژباړه:

افعالِ مقاربه په مثل د ناقصو وګڼه!

خلور دي هغه: اَوْشَكَ، كَادَ، كَرَبَ بل عَسٰى

رفع ورکونکي د اسم دي او خبر ته نصب ورکوي.

مثالونه يې په لاندې ډول دي:

عَسٰى زَيْدٌ اَنْ يَّخْرُجَ. عَسَتِ الْمَرْاَةُ اَنْ تَقُوْمَ.

كَادَ عَمْرٌو يَذْهَبُ. كَرَبَ خَالِدٌ يَجْلِسُ.

اَوْشَكَ بَكْرٌ اَنْ يَّجِيْئَ.

اَفعالِ مدح او ذم: دې ته وايي چې د يو چا ښه والی او بد والی بيانوي.

د شعر ژباړه:

فعل مدح او ذم خلور دي رافع دي اسماء جنس لره

او هغه دي: بِئْسَ، سَآءَ، نِعْمَ، خلورم حَبَّذَا

بِئْس او سَاءَ لپاره د ذم دي، خان ساتئ له دوی نه همېشه

تر څو چې په دنيا او عقبٰی کې وي ستا ښېګڼه

دپاره د مدح دی نِعْمَ، حَبَّذَا ای روح زمـــا

نـو ته کوه قابل مدح کـــارونه سبا و بېګـــا

مثالونه يې دا دي:

بِئْسَ الرَّجُلُ عَمْرٌو. سَاءَ الرَّجُلُ زَيْدٌ.

نِعْمَ الرَّجُلُ عَمْرٌو. حَبَّذَا زَيْدٌ.

فايده: دغه فعلونه دوه اسمونه غواړي، اول اسم ته يې فاعل او دويم اسم چې ددې افعالو د فاعل نه وروسته دی، هغه ته مخصوص بالمدح يا مخصوص بالذم وايي.

شرط يې دا دی چې فاعل به يې معرف باللام وي، لکه: نِعْمَ الرَّجُلُ عَمْرٌو، يا د معرف باللام طرف ته مضاف وي، لکه: نِعْمَ صَاحِبُ الْعِلْمِ بَكْرٌ، يا به فاعل ضمير مستتر وي چې د هغه تميز نکره منصوب وي، لکه: نِعْمَ رَجُلًا زَيْدٌ، په دې مثال کې د نِعْمَ فاعل "هُوَ" ضمير په نِعْمَ کې مستتر ده، او رَجُلًا منصوب بنا په تميز ده ځکه چې هُوَ مبهم ده.

يادونه: په حَبَّذَا زَيْدٌ کې حَبَّ فعل مدح ده او ذَا ددې فاعل ده او زَيْدٌ مخصوص با لمدح ده، همداراز بِئْسَ الرَّجُلُ عَمْرٌو او سَاءَ الرَّجُلُ زَيْدٌ حال هم دی.

د افعالِ تعجب: دوه صيغې له هر ثلاثي مجرد څخه راځي:

اوله صيغه: مَا اَفْعَلَهُ لکه: مَا اَحْسَنَ زَيْدًا! تقدير يې داسې دی: اَيُّ شَيْءٍ اَحْسَنَ زَيْدًا؟ مَا په معنی د اَيُّ شَيْءٍ په محل د رفع کې

مبتدا ده او اَحْسَنَ په محل د رفع کې خبر ده او فاعل د اَحْسَنَ هُوَ ضمیر دی چې په اَحْسَنَ کې مستتر ده او زَیْدًا یې مفعول به ده.

ترکیب: یې داسې دی: مَا مبتدا، اَحْسَنَ فعل، په ده کې ضمیر د هُوَ هغه دده فاعل، زَیْدًا مفعول به، فعل له خپل فاعل او مفعول به سره دا جمله فعلیه خبریه خبر شو د مبتدا، مبتدا سره له خبره دا جمله اسمیه انشائیه شوه.

دویمه صیغه: اَفْعِلْ بِه لکه: اَحْسِنْ بِزَیْدٍ،اَحْسِنْ صیغه د امر ده په معنا د فعل ماضي، تقدیر ددې دا ده: اَحْسَنَ زَیْدٌ یعنې صَارَ ذَا حُسْنٍ او "با" زائده ده.

یوویشتم فصل

اسماء عامله

د اسماء عامله لس (۱۰) قسمونه دي:

(۱) :**اسماء شرطیه**: په معنی د اِنْ شرطیه مضارع ته جزم ورکوي او هغه نهه (۹) دي.

مَنْ،مَهْمَا،مَتٰى،اِذْمَا،مَا،اَیٌّ،حَیْثُمَا،اَنّٰى او اَیْنَمَا.

مثالونه يې دا دي:

مَنْ يُكْرِمْنِيْ اُكْرِمْهُ. مَهْمَا تَقْعُدْ اَقْعُدْ.

مَتٰي تَذْهَبْ اَذْهَبْ. اِذْمَا تُسَافِرْ اُسَافِرْ.

مَا تَشْتَرِ اَشْتَرِ. اَيُّهُمْ يَضْرِبْنِيْ اَضْرِبْهُ.

حَيْثُمَا تَقْعُدْ اَقْعُدْ. اَنّٰى تَكْتُبْ اَكْتُبْ.

اَيْنَمَا تَقْصِدْ اَقْصِدْ.

(۲): **اسماء افعال:**

دا فعلونه دي؛ خو معنا يې د اسمونو ده او هغه نهه (۹) دي.

د شعر ژباړه:

اسماء افعال نهه (۹) دي په دوی کې رافع درې دي

دوه دي هَيْهَاتَ او شَتَّانَ دريم شولو سَرْعَانَ(دا درې رافع دي)

شپږ دي ناصب مدخول خپل لره دونک، بله، عليک، حيهل

بيا رُوَيْدَ او هَا په ياد و لره ای با وفا!

مثالونه:

هَيْهَاتَ زَيْدٌ. شَتَّانَ زَيْدٌ وَعَمْرٌو. سَرْعَانَ عَمْرٌو.

دا درې د ماضي په معنا راځي او اسم ته په وجه د فاعليت رفعه ورکوي.

دَوْنَكَ عَمْرًا. بَلْهَ سَعِيْدًا. عَلَيْكَ بَكْرًا.

حَيَّهَلَ الصَّلَاةَ. رُوَيْدَ زَيْدًا. هَا خَالِدًا.

دا شپږ اسمونه د امر حاضر په معنا راځي او اسم ته په وجه د مفعوليت نصب ورکوي.

(۳) **اسم فاعل**: دا د فعل معروف په شان عمل کوي چې فاعل ته رفع او مفعول ته نصب ورکوي، له فعل معروف سره يې يوازې دا فرق شته چې د اسم فاعل عمل کول مشروط دي په دوه شرطونو سره:

اول شرط: اسم فاعل به په معنا د حال او استقبال سره وي.

دويم شرط: اسم فاعل به هلته عمل کوي چې له ده څخه مخکې شپږ شيان ذکر وي او په هغوی به يې اعتماد (تکيه) کړې وي.

اول: مخکې به ترې مبتدا وي، لکه: زَيْدٌ قَائِمٌ أَبُوْهُ، زَيْدٌ ضَارِبٌ أَبُوْهُ عَمْرًا.

دويم: مخکې به ترې موصوف وي، لکه: مَرَرْتُ بِرَجُلٍ ضَارِبٍ أَبُوْهُ بَكْرًا.

دريم: مخکې به ترې موصول وي، لکه: جَاءَنِيَ الْقَائِمُ أَبُوْهُ، جَاءَنِيَ الضَّارِبُ أَبُوْهُ عَمْرًا.

څلورم: مخکې به ترې ذوالحال وي، لکه: جَاءَنِيْ زَيْدٌ رَاكِبًا غُلَامُهُ فَرَسًا.

پینځم: مخکې به ترې همزه د استفهام وي، لکه: أَضَارِبٌ زَيْدٌ عَمْراً.

شپږم: مخکې به ترې حرف نفي وي، لکه: مَاقَائِمٌ زَيْدٌ.

یادونه: کوم عمل چې قَامَ یا ضَرَبَ کولو هم هغه عمل به قَائِمٌ اوضَارِبٌ هم کوي.

(۴) **اسم مفعول**: دا د فعل مجهول عمل کوي چې مفعول مالم يسم فاعله ته رفع ورکوي، د دې د عمل هم دوه شرطونه دي:

اول دا چې په معنا د حال یا استقبال سره به وی.

دویم دا چې مخکې به ترې نه مبتدا یا موصوف یا موصول یا ذوالحال یا د استفهام همزه او یا حرف نفي وي.

لکه: زَيْدٌ مَضْرُوْبٌ أَبُوْهُ، وَعَمْرٌو مُعْطَى غُلَامُهُ دِرْهَمًا، بَكْرٌ مَعْلُوْمٌ اِبْنُهُ فَاضِلًا، وَخَالِدٌ مُخْبَرٌ اِبْنُهُ عَمْراً فَاضِلًا.

هغه عمل چې ضُرِبَ، أُعْطِيَ، عُلِمَ، أُخْبِرَ کولو هم هغه عمل به مَضْرُوْبٌ، مُعْطًى، مَعْلُوْمٌ، مُخْبَرٌ هم کوي.

(۵) **صفت مشبه**: دا هم د خپل فعل په شان عمل کوي؛ خو د یادو شویو شرطونو سره ، لکه: زَيْدٌ حَسَنٌ غُلَامُهُ، کوم عمل چې حَسُنَ کولو، هم هغه عمل به حَسَنٌ هم کوي.

(۶) **اسم تفضيل**: دده استعمال په درې طريقو سره کېږي.

۱- **په مِنْ سره، لکه**: زَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو.

۲- **په الف لام سره، لکه**: جَاءَنِيْ زَيْدُنِ الْاَفْضَلَ.

۳- **په اضافت سره، لکه**: زَيْدٌ اَفْضَلُ الْقَوْمِ.

اسم تفضيل په خپل فاعل کې عمل کوي؛ خو چې هغه ضمير مستتر وي چې هُوَ دی.

(۷) **مصدر**: دا په دې شرط چې مفعول مطلق نه وي، د خپل فعل په څېر عمل کوي، لکه: اَعْجَبَنِيْ ضَرْبُ زَيْدٍ عَمْرًا.

(۸) **اسمِ مضاف**: دغه اسم مضاف اليه ته جر ورکوي، لکه: جَاءَنِيْ غُلَامُ زَيْدٍ دلته حقيقت کې "ل" مقدر ده ځکه چې تقدير يې داسې کېږي: غُلَامٌ لِزَيْدٍ.

(۹) **اسم تام**: اسم تام تميز ته نصب ورکوي او د اسم تام کېدل يا په ظاهر تنوين سره کېږي، لکه: مَافِي السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا.

يا په تقدير د تنوين سره کېږي، لکه: عِنْدِيْ اَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا، زَيْدٌ اَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا.

يا په نون تثنيه سره لکه: عِنْدِيْ قَفِيْزَانِ بُرًّا.

يا په مشابه د نون د جمع سره لکه: عِنْدِيْ عِشْرُوْنَ دِرْهَمًا.

(۱۰) **له اسماء عامله څخه اَسماء کنایات**: کَمْ او کَذَا.

کَمْ په دوه قسمه دی: ۱- **استفهامیه** ۲- **خبریه**.

کَمْ استفهامیه: تمیز ته نصب ورکوي او کَذَا هم تمیز ته نصب ورکوي لکه: کَمْ رَجُلًا عِنْدَكَ؟ وَعِنْدِيْ كَذَا دِرْهَمًا.

کَمْ خبریه: تمیز ته جر ورکوي، لکه: کَمْ مَالٍ اَنْفَقْتُ وَ کَمْ دَارٍ بَنَيْتُ او کله کله مِنْ جاره د کَمْ خبریه په تمیز باندې راځي، لکه په قرآن مجید کې راغلي دي: ((کَمْ مِنْ مَلَكٍ فِي السَّمٰوٰتِ)).

دوه ویشتم فصل

دویم قسم معنوي عوامل

معنوي عامل: هغه دی چې ظاهراً په لفظ کې نه وي او په سترګو هم نه معلومیږي.

او عامل معنوي په دوه قسمه دي:

اول ابتدا: یعنې د عواملو لفظیه وُ نه د اسم خالي کېدل دا مبتدا ته رفع ورکوي، لکه: زَيْدٌ قَائِمٌ. په دې کې زَيْدٌ مبتدا ده چې د ابتدا له وجې مرفوع ده او قَائِمٌ خبر هم په ابتدا سره مرفوع ده لکه چې په دواړو (مبتدا او خبر) کې ابتدا عامل دی.

تفصیل: دلته دوه مذهبه دي:

اول مذهب دا دی چې په مبتدا کې ابتدا عمل کوي او په خبر کې مبتدا.

دويم مذهب دا دی چې مبتدا او خبر يو په بل کې عمل کوي، يعنې مبتدا په خبر او خبر په مبتدا کې عمل کوي.

دويم عامل معنوي: په فعل مضارع کې ده، خو کله چې له نواصبو او جوازمو څخه خالي وي، فعل مضارع ته رفعه ورکوي، لکه يَضْرِبُ زَيْدٌ، دلته يَضْرِبُ مرفوع ده ځکه چې د ناصب او جازم نه خالي ده.

درويشتم فصل

غير عامله حروف

حروف غير عامله چې په لفظ کې عمل نه کوي، په شپاړس (۱۶) قسمه دي

(۱)- **حروف تنبيه درې دي**: اَلَا، اَمَا، هَا دا حروف په جمله باندې راځي، د مخاطب د غفلت د لرې کولو دپاره لکه اَلَا زَيْدٌ قَائِمٌ، اَمَا عَمْرٌو نَائِمٌ، هَا اَنَا حَاضِرٌ.

(۲)- **حروفِ ايجاب**: لکه: نَعَمْ، بَلٰى، اَجَلْ، اِىْ، جَيْرِ او اِنَّ دې ته حروفِ تصديق هم وايي.

نَعَمْ: د مخکيني خبرې تصديق کوي هغه که مثبت وي که منفي، لکه څوک چې ووايي: مَا جَاءَ زَيْدٌ نو د هغه په ځواب کې نَعَمْ ويل کېږي يعنې مَا جَاءَ زَيْدٌ. همدارنګه چې کله وويل شي: ذَهَبَ عَمْرٌو نو د هغه په ځواب کې به نَعَمْ ويل کيږي يعنې ذَهَبَ عَمْرٌو.

بَلٰى: د نفي د اثبات دپاره راځي، لکه: ((اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ؟ قَالُوْا بَلٰى)) يعنې بَلٰى اَنْتَ رَبُّنَا.

اِيْ: په شان د نَعَمْ ده ليکن دومره فرق يې دی چې اِیْ د استفهام نه وروسته د قسم سره راځي، لکه څوک وايي: اَقَامَ زَيْدٌ ؟ د هغه په ځواب کې ويل کيږي: اِيْ وَ اللّٰهِ! (هو! په الله مې قسم).

اَجَلْ او جَيْرِ: هم په شان د نَعَمْ دي، ليکن د دغو سره قسم ضروري نه دی.

اِنَّ هم د نعم په خبر ده ليکن د دې استعمال کم راځي.

۳- **حروفِ تفسير**: حروفِ تفسير دوه دي: اَيْ او اَن، لکه: جَاءَنِيْ زَيْدٌ (اَیْ اَبُوْكَ) او يا لکه په قرآن مجيد کې چې راغلي دي: ((وَ نَادَيْنَاهُ اَنْ يَّا اَبْرَاهِيْمُ)) يعنې نَادَيْنَاهُ بِلَفْظٍ هُوَ قَوْلُنَا يَا اِبْرَهِيْمُ.

۴- **حروف مصدريه**: حروف مصدريه درې دي: مَا، اَنْ او اَنَّ.

مَا او اَنْ فعل په معنا د مصدر بدلوي، لکه: ((ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ)) اَیْ بِرُحْبِهَا، وَاَعْجَبَنِيْ اَنْ ضَرَبْتَ (اَيْ ضَرْبُكَ)

اَنَّ: په جمله اسميه باندې داخليږي، لکه: بَلَغَنِيْ اَنَّ زَيْدًا نَائِمٌ (اَیْ نَوْمُهٗ).

۵- **حروفِ تحضيض**: حروفِ تحضيض څلور دي: أَلَّا، هَلَّا، لَوْمَا او لَوْلَا.

که دا حروف په مضارع باندې راشي؛ نو مقصد به يې يو څوک پر يو شي ورتېزول او رغبت ورکول وي، لکه: هَلَّا تُصَلِّيْ؟ (ته لمونځ ولې نه کوې؟) او په همدې وجې دغو ته حروف تحضيض وايي ځکه چې د تحضيض معنا ده تېزول او رغبت ورکول.

او که دا حروف په ماضي باندې داخل شي؛ نو مقصد به يې مخاطب ته پښېمانتيا ورکول وي، لکه: هَلَّا صَلَّيْتَ الْعَصْرَ؟ (تا د مازديګر لمونځ ولې نه دی کړی؟) او دغو حرفونو ته "حروف تنديم" هم وايي.

۶- **حرفِ توقع**: او دا قَدْ دی، دا حرف ماضي مطلق ماضي قريبه ګرځوي او د "بې شکه" او تحقيق معنا ورکوي، لکه (قَدْ أَفْلَحَ مَنْ زَكَّاهَا) او کله چې په فعل مضارع داخل شي، د تقليل معنا ورکوي لکه: قَدْ يَجُوْدُ الْبَخِيْلُ (کله کله بخيل هم سخاوت کوي) او قَدْ يَجِيْءُ زَيْدٌ (زيد کله کله راځي) او کله مضارع کې هم د بې شک او تحقيق معنا ورکوي لکه: ((قَدْ يَعْلَمُ اللهُ)) (بې شکه الله تعالٰی پوهېږي). او کله قَدْ د توقع (اميد) لپاره هم راځي لکه: قَدْ يَقْدَمُ اللَّيْلَةَ (نن شپه د مسافر د راتلو اميد شته.

۷- **حرفِ استفهام**: او دا درې دي: مَا،أَ او هَلْ.

دا درې واړه د جملې (کلام) په سر کې راځي لکه: مَااسْمُكَ؟ أَزَيْدٌقَايِمٌ؟هَلْ زَيْدٌقَايِمٌ؟

۸- **حرفِ رَدَع**: کَلَّا حرفِ رَدَع دی چې دا زياتره وخت د انکار او منع دپاره راځي، لکه څوك ووايي کَفَرَ زَيْدٌ نو د هغه په ځواب کې ويل کيږي: کَلَّا (هيڅکله نه ده) داسې

او کَلَّا د حقًّا يعني بې شکه او يقين په معنا هم راځي، لکه ((کَلَّاسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ)) (بې شکه نږدې ده چې تاسو به پوه شئ).

۹- **تنوين**: هغه نون ساکنه دی چې تلفظ پرې کيږي او دا په څو قسمه (ډوله) وي، دوه د هغوی نه دا دي:

۱- **تمکن** لکه: زَيْدٌ ۲- **عوض** دا هغه تنوين دی چې د مضاف په اخر کې د مضاف اليه په عوض راغلی وي، لکه يَوْمَئِذٍچې د يَوْمَ إِذْ کَانَ کَذَا په عوض کې ويل کيږي او حِيْنَئِذٍ، د حِيْنَ إِذْ کَانَ کَذَا په ځای ويل کيږي.[1]

۱۰- **نونِ تاکيد**: لکه اِضْرِبَنَّ او اِضْرِبَنْ.

---

(۱) (۳) تنوين لپاره د تنکير (۴) تنوين د مقابلی (۵) تنوين د ترنم لپاره. (هداية النحو)

۱۱- **لامِ مفتوحه**: د تاکید دپاره راځي، لکه: لَزَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو.

۱۲- **حروف زيادت** اته (۸) دي: اِنْ، اَنْ، مَا، لَا، مِنْ، ك، ب، ل.

مثالونه يې دا دي

مَا اِنْ زَيْدٌ قَائِمٌ. ((فَلَمَّآ اَنْ جَاءَ الْبَشِيْرُ))

اِذَا مَا تَخْرُجْ اَخْرُجْ. مَا جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَلَا عَمْرٌو.

مَا جَاءَنِيْ مِنْ اَحَدٍ. ((لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ))

مَا زَيْدٌ بِقَائِمٍ. ((رَدِفَ لَكُمْ))

۱۳- **حروفِ شرط**: اَمَّا او لَوْ دي.

اَمَّا د تفسير لپاره راځي او "فَا" د هغه په ځواب کښې راوړل ضروري دي، لکه دا قول دخدای تعالی: ((فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَّ سَعِيْدٌ فَاَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا فَفِي النَّارِ... وَاَمَّا الَّذِيْنَ سُعِدُوْا فَفِي الْجَنَّةِ))

لَوْ: د دويمې جملې نفي ظاهروي د اولې جملې د منتفي کېدو په سبب لکه: په قرآن مجيد کې راغلي دي: ((لَوْ كَانَ فِيْهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا))

ژباړه: که ((په اسمانونو او ځمکه کې ډېر خدايان وای ما سوی له يوه خدای جل جلاله څخه؛ نو د ځمکې او اسمانونو نظام به ګډوډ شوی وو)).

معلومه شوه چې له یوه خدای جل جلاله څخه پرته نور خدایان نشته؛ نو د ځمکې او اسمانونو نظام هم په ښه توګه روان دی.

۱۴- **لَوْلَا**: دا انتفاء د دویم شي کوي په سبب د وجود د اولني شي لکه: لَوْلَا زَيْدٌ لَهَلَكَ عَمْرٌو که زید نه وای؛ نو عمرو به هلاک شوی وای. (مګر زید و ځکه عمرو هلاک نه شو).

۱۵- **مَا**: په معنا د **مَا دَامَ** سره راځي، لکه: اَقُوْمُ مَا جَلَسَ الْاَمِيْرُ (زه به ولاړ اوسم تر څو چې امیر ناست وي).

۱۶- **حروفِ عطف**، حروفِ عطف لس (۱۰) دي: واو، فا، ثُمَّ، حَتّٰى، اِمَّا، اَوْ، اَمْ، لَا، بَلْ او لٰكِنْ.

حروف عطف: هغه حروف دي چې خپل ماقبل او مابعد په یوه حکم کې شریکوي، د دغو حروفو څخه مخکې شي ته معطوف علیه او وروسته شي ته معطوف وايي.

(۱) **واو**: دغه معطوف او معطوف علیه په یوه حکم کې سره یو ځای کوي لکه: تَوَلَّى الْخِلَافَةَ اَبُوْبَكْرٍ وَ عُثْمَانُ (یعنې ابوبکر او عثمان رضي الله عنهما د خلافت خاوندان جوړ شول.

(۲) **فا**: د تعقیب مع الوصل لپاره راځي، لکه: دَخَلَ الْمُدَرِّسُ فَوَقَفَ التَّلَامِيْذُ (ښوونکی چې داخل شو؛ نو سمدستي زده کوونکي جګ شول)

(۳) **ثُمّ**: دا د ترتیب او تراخي (وروستوالي) دپاره راځي، یعنې د یو کار د ختمېدلونه وروسته د بل کار په وروستوالي باندې دلالت کوي، برابره خبره ده که دغه وروستوالی په زمانه کې وي او که په مرتبه کې وي، لکه: خَرَجَ الشَّبَابُ ثُمَّ الشُّيُوخُ.(ځوانان راووتل بیا لږ وروسته سپین ږیري راووتل)

(۴) **اَوْ**: دا د دوه معناګانو دپاره راځي (۱) د شک لپاره که چېرته په جمله خبریه کې کارول شوی ؤ، لکه: نقل الخبر عَلِيٌّ اَوْ فريدٌ(علي یا فرید خبر را نقل کړ) او که په جمله انشائیه کې کارول شوی ؤ؛ نو بیا د تخییر (خوښې) لپاره راځي، لکه: خُذْ رماناً او تفاحاً (خوښه دې که انار اخلې او که مڼه!)

(۵) **اَمْ**: په دوه قسمه دی: (۱) **ام متصله**.(۲) **ام منقطعه** (**منفصله**)

اَمْ متصله: د دوه برابرو امرونو څخه دیوه د معلوموالي دپاره له همزې د استفهام نه وروسته راځي، لکه: اَكِتَابٌ عِنْدَكَ اَمْ قَلَمٌ؟

که د استفهام له همزې نه وروسته واقع شوی ؤ؛ نو له ده وروسته هم فعل راځي، لکه: اَنَجَحَ تَلْمِيْذٌ فِي الْاِمْتِحَانِ اَمْ رَسَبَ؟(زده کوونکی په امتحان کې کامیاب شوی او که ناکام دی؟) ددې ځواب په نعم یا بلی سره نه کېږي، بلکې د یوه د معلوموالي سره به راځي، دې ته اَمْ مُعَادِلَهْ هم وايي.

اَمْ منقطعه: هغه ده چې له ده نه مخکې همزه د استفهام نه راځي او دا د بَلْ د لفظ په شان د اِضْرَابْ معنا ورکوي، لکه: اِنَّهَا لَاِبِلٌ اَمْ شَاةٌ (بې شکه هغه اوښ بلکې اوزه ده)

(۶) **بَلْ** (۷) **لَا** (۸) **لکنْ**

بل: د اِضْرَابْ دپاره راځي، لکه اشترَيتُ دواةً بل قَلَماً.

لا: له معطوف نه نفي د حکم کوي لکه: جاء السيّدُ لا خادمه.

لکنْ: دا د استدراک دپاره راځي چې له مخکيني جملې څخه کوم شک پيدا شوی وي د هغه د لرې کولو دپاره راځي لکه: مَا حَضَرَ الْوَلَدُ لكنْ اُسْتَاذُهُ

(۹) **حتّى**: دا د انتهاء د غايې دپاره راځي لکه فرّ الجُنُودُ حتّى القايِد

(۱۰) **امّا** هم لکه اَوْ، اَمْ حرف عطف دی او لپاره د ثبوت د حکم دی يو د امرينو لره مبهماً پرته له تعين په علم د متکلم کې او له امّا څخه مخکې به بله اِمّا راځي لکه: العدد امّا زوجٌ وَ امّا فَرْدٌ.[1]

احقر بنده عبدالمتين عاطفي


د ژباړې پای:


۱۴۳۴ هـ ق ربيع الاول


موافق ۱۳ جنوري ۲۰۱۳ کال

---

(۱) (هداية النحو)


د مسنونو دعاګانو
فضائل او برکات


د ښځو نوي مسائل


علمي وعظونه


د طب نوي مسائل
د قرآن او سنت په رڼا کې